کمثل الکلب ان تحمل علیه یلهث او تترکه یلهث ذلك مثل القوم الذین کذبوا بایاتنا فاقصص القصص لعلهم یتفکرون .

(سورهٔ الاعراف : ۱۷۶)

« و اگر میخواستیم رفعت میبخشیدیم او را بوسیلهٔ عنایات (خود) و لیکن میل کرد بسوی زمین (بسوی پستی تمایل کرد) و هوسش را پیروی کرد پس مثال او چون مثال سگیست که اگر تحمیل کنی بروی (برانی اش) زبان میکشد و اگر بگذاری اش زبان کشد اینهم مثال گروهیست که آیات ما را تکذیب کردند. پس بخوان برایشان این پند تا ایشان تفکر نمایند . »

چون سگی که در هرصورت ظاهرش چنان است که گویا تشنه باشد و از فرط عطش و تشنگی زبانش بیرون آمده است، در حالیکه طبیعتش همین است و به عطش و تشنگی اش ربطی ندارد. هوا پرست نیز از توجه به اهداف بزرگی انسانی محروم از مقام رفیع انسانی به حضیض ، دنائت و طمع ، حرص و آز دنیا- پرستی و هوا پرستی پرت شده است هوی و هوس نمیگذارد تا لحظهٔ از طمع و حرص منصرف شود و دهان از مطالبهٔ مطامع مخط دنیوی بر بندد .

قرآن در جای دیگری می فرماید :

ارءیت من اتخذ الهه هوٰه افانت تکون علیه علیه وکیلا .

(سورهٔ الفرقان : ۴۳)

« آیا دیدی کسی را که هوسش را خدای خود گرفته است آیا تو بر وی نگهبان و وکیل میشوی . »

در جای دیگری خطاب به بنی اسرائیل می فرماید :

افکلما جاءکم رسول بما لا تهوی انفسکم استکبرتم ففریقا کذبتم و فریقا تقتلون .

(سورة البقرة : ۸۷)

« آیا هرگاه آورد پیامبری آنچه دوست ندارد نفسهای تان استکبار نمودید ، گروهی را تکذیب کردید و گروهی را به قتل رسانیدید . »

آیا شما به این دلیل گروهی از پیامبران را تکذیب نمودید و گروهی دیگری را به قتل محکوم کردید که دعوت آنان باهوا پرستی و دنیا پرستی شما تصادم میکرد ؟

همچنان میفرماید :

و لن ترضی عنك الیهود و لا النصری حتی تتبع ملتهم قل ان هدی الله هو الهدی و لئن اتبعت اهوائهم بعد الذی جاءك من العلم ما لك من الله من ولی و لا نصیر .

(سورة البقرة : ۱۲۰)

« و هرگز راضی نشوند از تو یهود و نه نصاری ، تا آنکه پیروی کنی کیش شانرا ، بگو هدایت الهی (فقط) هاست هدایت ، و اگر پیروی کردی از هوسهای باطلهٔ آنانرا پس از آنچه آمده است به تو از علم و دانش ، نباشد ترا (برای نجات از عذاب الهی) هیچ دوستی و نه هیچ یاری دهنده ای . »

زړکه

امیل

چې وړې وو ، په مړیو -
په شیشو به بنایسته وو
چې څه لوی شو ، د مرجانو ؛
ملغلرو د لبسته وو

*

د هردور بل فېشن وي
د هر وخت تقاضا بله
د بنایست څه څنډې نه شته
نن وي یوه ، او سبا بله

*

د ټوپکو دلاسکې د ې
چې په غرونو کې خورې شي
د هر سار تر نوا بشکلې
د هر تار تر نغمو ښې شي

*

نن د نامراونتاپ ډګر دی
د بنایست ارخونه نور دي
د پوډرو وار تېر شوی
بنایسته مخونه ښور دي

چې په تیښت باندې اوربل وي
چې کښ شپه په رالویدو وي
نو هر رقصه بنه بنکاریږي
نو هر فلم د لیدو وي

*

چې وي وینې، باندې ماتې
هغه مخ د حسن لمر دی
چې سر تیټ نه کړي غلیم ته
هغه زړه د مینې غر دی

*

او س په سړو او سپینو زړو
پېغلې نه درښوي غاړې
پښتني نجونه، له یاره
د کار توسو، امیل غواړي

*

نو که راغلې، د زړه یاره!
یو امیل، درسره راوړه
د سیالۍ فکر مې بویه
چې جوړه شو، جنګ ته دواړه

پروفیسر عبدالرؤف بینوا
د پښتو ټولنې د پښتو اکیډمۍ رئیس

دهېواد زلمي ته!

په سپین غر بل درته بیا اوږ دې
زلمیه! غوږ شه شور-ماشور دی
هسې نه ستا په کور مغل راشي
په تاسو هم داسې یرغل راشي

(۱)

توږ ټوپک ته ځان تیار کړئ
ځان د وطن خپل څوکیدار کړئ
په غفلت نشئ ځان بیدار کړئ
په مینه-مینه هریو کار کړئ
چې خپل وطن ګل وګلزار کړئ
هم د دښمن نه خطا وار کړئ
د بیدارۍ جرس غږ ټیرئ
تلوار کوئ نا وخته کیږي
د ده ټابیا، طاقت او زور دی
که زور دې نه وي کور دې خوردی

په سپين غر بل درته بيا اور دی
زلميه ! غوښه شه شور-ماشور دی
هسې نه ستا په کور مغل راشي
په تاسو هم داسې يرغل راشي

(۲)

کورئ نه ، خواکې څه روان دي
کلي تالا ، بنارونه ويران دي
وګړي واړه پښه نيران دي
کيږدی - کورونه په لړزان دي
لښکې د سرو وينو روان دي
څوک دا نه وايي انسانان دی
د بڼې په دوی ، نه ايسار يږي
پېغلې ، تور سبې مير اتيږي
په څه ګناه دا ظلم - زور دی
نه يو خبر ، چې سپين که تور دی

په سپين غر بل درته بيا اور دی
زلميه ! غوښه شه شور-ماشور دی
هسې نه ستا په کور مغل راشي
په تاسو هم داسې يرغل راشي.

(۳)

دا چې په مخه را روان دی
بلا یې زور، بلا یې توان دی
دیر ستا د وینو په ارمان دی
زهره یې هم کلک لکه سندان دی
منکر دذین، هم د ایمان دی
کفر- الحاد د ده بنشان دی
غرض اخیستی، نه ودریږي
د ده د لاسه اوز وزیږي
شیطان د ده په اوبو سور دی
بانه یوه، مطلب یې بنور دی

په سپین غرښل درته بیا اور دی
زلمیه! غوښه شه شور-ماشوم دی
هسې نه ستا په کور مغل راشي
په تاسو هم داسې یرغل راشي

(۴)

پورته وطن یې برفستان دی
یخ یې دریاب، یخ یې میدان دی
دی د تودوخې په ارمان دی
څکه دې خواته راروان دی

نن بې هدف افغانستان دی
سبا په موږ دا امتحان دی
لښه په ګډو، نه زيريږي
خوی يې هغه وي، نه بدليږي
تل يې نظر د بل په کور دی
نه د چا دوست، نه د چا وروردی

په سپين غر بل درته بيا اور دی
زلميه اغوږ شه شور - ماشوردی
هسې نه ستا په کور مغل راشي
په تاسو هم داسې ير غل راشي

(۵)

د دې وطن، زلمي او جونه
نور به دوی نه کوي خوبونه
کوي په شپه - په ورځ کار و نه
په هره سيمه ير غلونه
راځي به داسې آواز و نه
په ننګ ژوندي - په ننګ به مرونه
د دين حصار به مضبوطيږي
زموږ وطن به ودانيږي

د غلامې نه مو زړه تـــور دی
غلامي ژوند نه دی پېغـــور دی

په سپين غر بل درته بيا اور دی
زلميه! غوږ شه، شور - ماشور دی
هسې نه ستا په کور مغل راشي
په تاسوهم داسې يـــرغـل راشي

(۲)

هپواد زمونږه پاکستان دی
مونږ ته د ځان و تنـــ کران دی
يو مو مولا - يو مو قـــرآن دی
يو مو بېرق - يو مو تاوان دی
د کران قايد دغه فرمان دی
يقين حکم مو په خپل ځان دی
قام چې ژوندی وي نه خوارېږي
د ننګ بېرغ نه را ټيـــټـــېږي
په مونږ شادر د نبـــي خـــور دی
د تورې غږ مو په هر لور دی

په سپين غر بل درته بيا اور دی
زلميه غوږ شه شور - ماشور دی
هسې نه ستا په کـــور مغل راشي
په تاسوهم داسې يـــرغـــل راشي.

کل ملا - همکار

د موربدل

څو ورځې دمخه مې په پکتیا کې د یو زلمي له خولې لاندینۍ کیسه واوریده او ډېره تأثیر یې راباندې وکړ .

که څه هم په دې وختونو کې د پکتیا هره خوا په وینو سره ده او ډزه - ډزه خاوره یې د روس د بې‌حده وحشت او د مسلمان غازي د حیرت انګیزه شجاعت شاهده ده ، مګر «دموربدل» داسې واقعه وه ، چې تر هرڅه دمخه یې ما لیکلو ته ځان مجبور ولید !

د پکتیا په لوړو غرو کې
د غیرت په مورچلو کې
د وطن په پاکه خاوره
د اسلام په سنګرو کې

* * *

یوه شپه راته لکیا شو

سپیدې

د دویم کال - درېمه گڼه - د ۱۳۶۴ ش، هـ د تلې ۲۰ مه
د ۱۹۸۵ م د اکتوبر ۱۳ مه .

چلوونکی :

محمّد صدیق - پسرلی

زمونږ پته :

G.P.O
P.O. BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

یو زلمی غازي په مینه
یو ناڅاپه، په ژړا شو
د دښمن د زړه له کینه

* * *

وې ډې: کلي کې یوه ښځه
په انګړ کې وه ولاړه
ډیخور زوی یې و، په غېږ کې
مور سره، غاړه - په غاړه

* * *

یو - ناڅاپه، یو جیټ راغی
یو نیپام بم یې ګوزار کړ
په هوا کې چاودون وشو
اور یې ټول په دوی امبار کړ

* * *

شوله پټه په لمبو کې
سوځیده سر له زویه
په ځان نه وه چې به مړه شي
په اولاد وه، دا ښکه خویه

* * *

زوی یې، وښیوه اوبو کې
چې یې وژغوري له مـړینې
دا لمبه - لمبه، اېره شوه
خو، زوی یې کړ، د مور مینې

* * *

مجاهد وې : دا یتیم بـه
دلته اوسي په درو کې
چې شي لوی، او کله ځوان شي
په دې هسکو - لوړو غرو کې

* * *

بیا به، دی هم بدل اخلي
د دښمن له پلار و موره
ځکه، دا د فطرت کار دی
چې، ځوان تښتي له پېغوره

عبدالباری- غیرت

راسره وژړل

ما چې نن ژړل نو ټول جهان راسره وژړل
زمکه په ژړا شوه، پاس آسمان راسره وژړل

ما د خپل هېواد چې د نا خوالو حکایت وکړ
هر با عاطفه، با درد انسان راسره وژړل

ما د اسلامي دنیا چې یادې کارنامې کړلې
دهر شولې خواشینې مسلمان راسره وژړل

کله چې یې ولیدل لوی ستم د سروخرسلو نن
ستوري په حیرت شول، کهکشان راسره وژړل

خوب کې مې کړې چیغې، په وطن مې سترګې سرې کړې
کله چې راویښ شولم، کور ویران راسره وژړل

ویښ کړلم آهونو، حسرتونو او غمونو چې
دومره شوم غمجن چې شبستان راسره وژړل

زمکه هغه سوچې کوم چې سور اوس پرې بل شوی وي
ځکه خوار مظلوم افغانستان راسره وژړل -

شعر از : سوسنیك

ترجمه از : عزیزاحمد نسیمی

فارنکفورت - المان

سرودی برای بلبل

بلبل ، بیا با هم در یکجا آشیانه کنیم و با یك زبان نغمه سر دهیم . بیا ان امروز یاران یکدل باشیم و شادیهای خود را با هم شریك سازیم .

بهار زیبا گذشته ، حالا دیگر فصل خزان است و به زمستان نزدیك میشویم .

دوست من ! گریه کن ، زیرا دیگر گلی بر شاخسار نمانده و گلبن در حال افسردن است .

دوست من ! بیا با هم نغمهٔ غم سر دهیم : تو ان پژمردگی گل ناله کن و من ان غم ویرانی سرزمینم شکوه کنم .

دیگر از بهار خبری نیست ، حالا خزان است و فردا نوبت زمستان خواهد بود .

ای بلبل ، بیا با هم بیاد گل پژمردهٔ تو و سرزمین بیچارهٔ من ناله غم سر دهیم . بیا دلهای خود را روی هم ریزیم و رنجهای دل را نیز با هم در آمیزیم .

نجیبه - وجدی

هغه بیا رانغله . . .

په یوه ورځه خپه کې یو کوچنی دیګ په اشپږو باندې اینبودل شوی و ، شاوخوا یې څوکوچنۍ پیالې او وړه څوکوچنۍ کاشوغلرلې وې ، یوه زړه بوډه ورځ ناسته او په دیګ کې یې کاشوغلرلې وړسره هغو ښځو ته غږیدله، چې ددې شاوخوا ناستې وې ، دوی د څو ناجوړه غاړو ، خبرنو او کمزورو مهاجرو کوچنیانو مینډې وې ، چې له لوږې سره د مجادلې دپاره په دغه کوچني نفري راټولې شوې وې -

د دیګ سر لوڅ و او خواږه په یوه خاص رنګ پکې بنکاریدل چې د کوچنیانو توجه یې ژر - ژر ځانته راجلبوله ، هلته دیګ ایشیله دلته ماشومانو پکې سترګې ښځې کړې وې ، خولې یې وړته اوبه - اوبه کیدې او د خوږو په انتظار کې پځیدل .

شمایله ، چې یوه یوولس کلنه نجلۍ وه ، هم د خپلې څخه دباندې ولاړه وه ، سترګې یې په دیګ کې ښځې کړې وې ، زړه ټاو ، چې د دې کوچنۍ دوه کلنه خور هم له دې دیګ څخه یوځه ترلاسه کړي او وږې ماشومه هم دې خوږو نه ترسیدله ، خو د دې ماشوم ذهن

دا خبره نشوای هسوسولای ، چې دا د کور - کلی خیرات نه دی بلکې د یوې خارجي اسټرکچر موسسې یو نمایشي ډیپارټمنټ دی ، چې په نمایشي توګه د ناوړې تغذیې له املې (مرلاسس) او سوء تغذي په ناروغیو باندې مبتلا ماشومانو ته خواړه پخوي ، نریات ګډښت هم نه ورباندې کیږي پس د ورځې د پټلسو ماشومانو د پاره څه خواړه پخیږي .

دلته یواځې هغه کوچنیان ، چې وزن یې د عمر په نسبت ډېر کم وي ، د ډاکټر د صحي معاینې نه وروسته د خوړو د پاره راللیږل کیدل ، خو شایله په دومره اوږده کیسه نه وه خبره ، نو زړه نا زړه د خپې مخې ته ورغله او په عاجزۍ یې زړې بوډې ته وویل : ادې ! نرما خوږ وږې ده ... لږ څه ورته وسکړه هغه د پېره ژاړي ....

زړې بوډې لږ تر لږه هغې ته د مخ کړځولو سخاوت ونکړ او د «شا په شا خبرو» له متود څخه یې کار واخیست ، دومره یې ورته وویل : ستا خوږ لویه پېغله ده ، غټه ده ، زه دې ته څه نشم ورکولی ....

شایلې په خپله غږ کې خبرې ، کړغږې ، وږې خوږ ته وکتل د ځان د سره یې وویل : که چېرې بخت یې یې ، ته هم خواږه هره ورځ ورسیږې ، نو بیا به دا هیڅکله له لوږې و نه ژاړې ....

نو د زړې بوډې د ځواب سره سم دا د کوچنۍ خپې څخه د لوږې خپې مخې ته په مات زړه روانه شوه ، خو هلته دا د یوې جنجال سره ځای شوه ، د دې غریبې زښه سبه نه چلیدله ، کوم ملشو

ورځنه پوښتنه وکړه ، چې ته دلته کومې بلا راوړې کړې یې ؟ هغې په ځواب کې ورته وویل : و و ووګورې ! ز ز ز ما په په سر کې دانې دی . . . .

د کیپ ماشومانو ، چې هڅکله په خپل ټول ژوند کې کومه کیدی ډرامه نه وه لیدلې ، نو د دې په ګوتله ژبه یې د پر زیات وخندل او دا غریب نوره هم خړه شوه .

بیا یوې بلې ماشومې د دې لاسونو ته وکتل ، ورته یې وویل : ووګورې ستا لاسونه څومره خپرن دي لږ خو یې پر ېمینځئ . . . .

دې خپلو لاسونو ته وکتل ، او وې ویل خیر ، خپرن نه دي ، دا چاوڼ چاویدې دي ، د دې خپرنو لاسونو ، چې د شرافت او ایماندارۍ شغلې یې ، د سوچه الماسو په څیر ځلیدې ، زما نظر هم ورڅلب کړ ، غټ غټ لاسونه ، خپرن او چاودې شوي لاسونه ، چې د هرې چاودې څخه یې وینې راوتلې وې ، نه پوهیږم څه تاثیر و ، چې د دې د لاسونو هره چاوده راته د افغانستان په وینو سره درو په څیر را ښکاره شوه . . . .

څه ګړۍ وروسته د دې واړې راغې ، د دې سره یې مور هم د دې د سر د پاسنمان کولو دپاره راغلې وه ، دې په عاجزۍ سره ماته وویل : خورې ! دا زما شایله سم نشې اوریدلای ، د دې غوږونه څوږیږي ، دا سر یې ولې نه جوړیږي ؟ . . .

ما چې د شایلې مور ته وکتل ، یوه لوړه ښځه وه ، اوږدې افغاني جامې یې اغوستې وې او کن توره وپښتان یې په مخ راپرا ته وو

چې په کردونو او خاورو لړلې بنکاریدل ، پروفې یې شکیدلې اوشیرې وې او پښې یې لوڅې وې .

ساه یې په سختۍ سره اخیستله ، د بڼې نه یې بنکاریدله چې په نرۍ رڼا اخته ده او ناروغۍ هم په هڅې تللې ده . بڼه یې توره سوې او رڼا ورته بنکاریده .

- زما نوم اسحاق زی دی ... زما ستې (پېښکاری) ماته کور ته راکړئ ... زه نشم راتلای ....

ډاکټرې ورته ویل : ته ولې د دوشنبې په ورځ نه وې راغلې ؟ ستا د دوا ورځ وه ، دوا دې قضا کړې ده ، ته ستې په وخت نه ګډوې ، داسې مه کوه ، ستا رڼا د هرخطرناکه رڼا دی....

دې دا خبرې اوریدې ، نور په دې کې د دریدلو طاقت نه و په هڅه کښاستله ، خپل سر یې په خپلو لاسونو ټینګ ونیو او ویې ویل: د غم زکام یې کړې ، دا ځل د مرګې تبې رابانديې راغلې دي ، د باران په ورځ راتلم ، خو نشوای راتلای ... شمایله مې نشوای رالېږلی ، خټې او چیکړې نړیا ټې وې ... او اوس هم دېره په خواږه راغلم ، ما ته د زکام د پاره څه دوا راکړئ ... ډاکټرې ته وویله ، ماته دوا راکړه ، زه ورسره په ژبه نه پوهېږم ، ....

او بیا دا چوپ شوه او ډاکټرې ته یې په خورا امید وکتل خو له دې کبله ، چې دوشنبه د سېل مریضانو ورځ وه او دا نه وه راغلې او دوایې هم نه درلوده ، نو ډاکټرې ورته بله دوشنبه وښودله چې په هغه ورځ باید خپله دوا یوسي ، او مړ باید یواځې یوه ساتې وګوي.

د ستنې د ګډولو نه ورسته ، هغه په ډېره خواږه په ځای ودریده ، بې له دې، چې ګیله وکړي ، یا څه وویي ، په ډېر معصوم نظر یې ټولو ته وکتل ، ستر ګو یې د خوښۍ په څېر چوپتیا نه لرله ، د حال په ژبه یې ویل چې: زه اوس کومک ته ضرورت لرم ... زه ډېره بېوزلې یم او هم ډېره رنځوره ... دلته به بله رنځوره نه وي ... څه کومک راسره وکړي ....

خو په خوله یې دومره کوله او مننه یې کوله او په آخر کې یې سپارښتنه کوله ، د شمایلې دپاره چې د سر دوا یې قضا نشي او غوږونه یې جوړ شي ....

بله هفته د سل مریضانو ورځ وه ، د وشنبه وه او د اعجاز د راتلو ورځ وه ... باران نه و ، هوا ښه وه ، ټول سل مریضان کتل شوي وو ، د دې نوم هم څوک له پورته شوی و ، خو دا لا نه راغلی او شمایله هم نه وه راغلې .

په سبا کله چې سپین موټر د کیپ د صحی کتنځی د خپمو مخې ته و درید نو شمایله هم د نورو کوچنیانو سره د موټر مخې ته راغله ، د هغوا په څېر یې موټر ته په هوس نه کتل د موټر مخې ته راغله ، کله چې ډاکټر او نور کسان د موټر نه راښکته کیدل ، نو شمایله د دوی مخې ته ورغله او په بېړه سره یې وویل :

- خورکې هو خورکې ... ته اسحاق زې پېژنې ، هغه تې پې (تی بی) چې ده ، هغه زما مور ....

- هو، موږ یې پېژنو، ولې ؟ .

- هغه پروت سهار مړه شوه ....

څه شی ؟ اسحاق زی مړه شوه .... د دې د مرګ خبر دیوه تندر په څیر زما په زړه ولګیده ، دا هاغسې لګیا وه ، د ویر خبرې یې کولې ، چې :

- خورکې ما ژړل ... زه یې نه پریښودم ، ویل یې هدیرې ته مه ځه ، بیا به د شپې په خوب ویریږې .

بیا یې ویل : خورکې ! زما مور پروت راتله ، ویل یې نن دوشنبه ده ، ډاکټره مانه دوا راکوي ، خو په پښو نشوای راتلای ، موږ خو ورته راوست ، کله چې په خره کښاسته تش خولې یې ډبرې وینې راغلې او بیا یې راښکته کړه ، په هاغر ځای مړه شوه ،... خورې مې ډیره ژاړې ،... دوړو مې تبه وه ، هغه هم پروت و ، کله چې زما مور مړه شوه ، نو ورو مې هم ډیر ژړل ،... زما پلار مجاهد دی ،... په افغانستان کې جهاد کوي ، موږ بل څوک نه لرو ، راشن یې تر اوسه موږ ته نه دی راکړې ،... او ....

هغه نازولې شایله چې خبرې یې سمې نشوای کولای ، نن ورځ په خبرو راغلې وه ، دردونه په خپله خولې ته راتلل او د دې معذورې ژبه یې په حرکت راوستلې وه ، خپله کوچنۍ خور یې په غېږ کې نیولې وه ، او د یوه بښه شاعر نه یې زیاتې اغېزناکې خبرې کولې ؛ داسې خبرې، چې د حاضرینو ژړا یې راپاروله ، ډاکټرې ژړل ، بڅې حیرانې وې چې دا ولې ژاړي ! او « ماري» چې یوه مهاجره پښغله وه په سکو کې یې ویل : دا ولې داسې کیږي ، اوه خدایه ، دا زموږ په خلکو څه

فهرست

شمره	مضمون	لیکوال	مخ
۱	تفسیری از آیات قرآن حکیم	—	۳
۲	امیل	زرکه	۱۲
۳	دهپواد زلمي ته !	طائر	۱۴
۴	دمور بدل	همکار	۱۹
۵	راسره وژړل	غیرت	۲۲
۶	سرودی برای بلبل	نسیمی (ترجمه)	۲۳
۷	هغه بیا را نغله ...	نجیبه - وجدی	۲۴
۸	آنشب همرات نخوابید !	فارانی	۳۱
۹	غوره څمکه	پسرلی	۳۶
۱۰	بـدل	غضنفر	۴۲
۱۱	له شرمه دکه مانې	غزوال	۵۳
۱۲	دقادر، د ژوند اومرګ کیسه	اکرام	۶۱
۱۳	لنډۍ	—	۶۹
۱۴	حذر نشته	فاطمی	۷۲
۱۵	چاربیته	رفیع	۷۳
۱۶	تشه حُولۍ	صیم	۷۶
۱۷	د حق آواز	عرفان-ختک	۷۸
۱۸	خزان	رخشور	۸۰
۱۹	زېړې لمر	نه- نثار	۸۳
۲۰	سپېځلی ارمان	غزوال	۸۴
۲۱		حمید الله (ترجمه)	۸۵
۲۲	کتابهای تازه	غضنفر	۹۴

راغلل، اوخته راځې ؟! ... اسحاق زې د موږ نه ولاړه ، کاش په هغه وړځ دې ته څه دوا ترلاسه شوې وای ....

په خبره کې د ماري د ژړا او سلګیو غږونه وو ، چې دخپې څخه دباندې م اوریدل کیدل او شمایلي ورته حیران - حیران کتل ، چې دوی تن ولې ژاړي ؟ خو دا نه وه خبره ، چې زړه-سوانده خلکو هم د دې د مور په غم ژړل ، خو اوس د شمایلي د سترګو اوښکې وچې شوې وې د سهار د نسیم په څپې یوه سپکه خوشالي ورته پیدا شوې وه، ځکه څو زړه-سوانده کسانو دې ته یوځه پیسې او کوچنۍ خورته یې یو څه بسکټ په لاسونو کې ورکړي وو ....

د ظالم مور شه په ظالم بور ه
اورمین یې مات شه پخپله تور ه
جهان د ظلم په چیغه وران دی
نړۍ کړیږي له د ې نا سور ه

کابل: ۵۷/۱۱/۱

سید محمود - فارابی

آتشب هـــرات خوابید!!

عزیزه قامت زیبای خود را در میان چادرنماز خوب پیچانده و بعد سر از دروازه بیرون کشید و کوچه را نگاه کرد سپس از خانه بدر شد و با عجله در حالیکه هر لحظه به عقب مینگریست، از میان کوچه های هرات بسوی مسجد جامع شهر براه افتاد و از حسن تصادف که در کوچه ها هیچ جا با عساکر گشتی مقابل نشد، هنگامیکه به نزدیک مسجد رسید، احساس کرد که در اطراف مسجد ازدحام است و تانکهای روسی هم مسجد را محاصره کرده اند.

پس صدای لود سپیکر یک تانک را شنید که یک پرچی از درون آن میگفت: رفقا، زحمتکشان هرات! پراگنده شوید و مسجد را تخلیه کنید اگر تا پنج دقیقه از مسجد خارج نشوید، آتش میکنیم.

درین وقت عزیزه به نزدیک یک تانک روسی رسید و میخواست از کنار آن عبور کند، عسکر روسی که پهلوی تانک ایستاده بود، به سراپای عزیزه نگاه کرد، پیکر و قامت او حتی از ورای پرده قیامت میکرد عسکر روسی دست انداخت و چادرنماز را از سر عزیزه فرو افگند گیسوان پریشان عزیزه و پیکر خوشتراش او در زمینهٔ پس منظر کاشی کاریها

دیوار بلند مسجد خاطرهٔ میناتورهای کهن شرقی را زنده و مجسم ساخت.

عزیزه برگشت و با خشم بسوی عسکر روسی تف انداخت، عسکر دست برد که از گیسوان عزیزه بگیرد که درین وقت یک جوان تنومند هروی از راه رسید، رهگذر جوان بی درنگ خنجری از کمر بیرون آورد وباقوت هرچه تمامتر چندین ضربهٔ پیهم بر هیکل چاق عسکر روسی وارد کرد.

جوان هراتی با سرعت برق کار عسکر روسی را تمام کرد و دست دختر را گرفت وشتابان وارد مسجد شد، اما هنوز از عقب گلدستهٔ کاشی کاری و زیبا و بلند دور نخورده بود که صدای مرگبار ماشیندارهای روسی غریو افگند، و در یک لحظه صدها گلوله بر بدنهٔ گلدستهٔ کاشی-کاری خورد و کاشی‌های زیبای آنرا فرو ریخت، اما جوان هراتی و عزیزه وارد دهلیز مسجد شدند و صدمهٔ زیادی بآنها نرسید، جز اینکه بازوی چپ جوان زخمی شد و سه گلوله پیاپی به آن اصابت کرد.

در همین لحظه آواز خطیب مسجد از لودسپیکر بلند شد که گفت ما از خانهٔ خدا بیرون نخواهیم رفت، شما گم شوید، بروید ازسرزمین ما بیرون شوید!

درین وقت زمان اخطار هم به پایان میرسید و فقط یک دقیقه و چند ثانیه مانده بود.

در داخل مسجد هم مسلمانها در کنج و کنار و روی بام گنبدی و در پناه مناره‌ها همه جا سنگر گرفته بودند و منتظر فرمانده قوماندان جوان خود (حیدر) بودند.

حیدر در میان دالان مسجد سلاح بدوش با چند تن از یاران

خود ایستاده بود که عزیزه خود را به او رساند : سلام، حیدر !

- و علیك السلام ، تو کجا بودی ؟

من از خانه آمدم ، دلم طاقت نکرد .

- خواهر عزیزم ! تو غلط کردی که آمدی ، تو چرا خود را به خطر انداختی .

برادر من ! از خطر و مرگ باک ندارم ، من هم میخواهم در راه آزادی و اسلام بجنگم و بمیرم .

حیدر لحظه ای با سکوت آمیخته به خشم به خواهرش نگریست و سپس بجوان هراتی که با خواهرش ایستاده بود کرد و گفت : اکرم پیغام را رساندی !

اکرم گفت : بلی، پیغام را رساندم و برگشتم ، برادرها تا ساعت ۹ شب آماده میشوند .

حیدر پرسید : دستت خون آلود است چرا ؟ و عزیزه در عوض او جواب داد : او همین الآن گلوله خورد ، او مرا نجات داد، وحیدر گفت: خواهر ! پس منتظر چه هستی ، رخمش را با چادرت ببند .

حالا دیگر باز صدای پیرمی از درون تانك بلند شد :

دیگر حتماً هفت دقیقه گذشته است ، از مسجد خارج شوید ! و باز صدای خطیب، مثل رعد در جواب او بلند شد : ما هرگز از مسجد، از پرستشگاه خدا بیرون نخواهیم رفت .

پیرمی گفت : پس ما آتش میکنیم .

خطیب گفت : ما هم آتش میکنیم، وهمهٔ تانرا به جهنم میفرستیم .

پرچی حرفهای خطیب را به افسر روسی که در کنارش نشسته بود ترجمه کرد .

افسر روسی که معلوم بود متردد است و کافی ترسیده است گفت بلند بگو ، ما اخطار را تا غروب آفتاب تمدید میکنیم ، اگر تا غروب خارج نشدید ، مسجد و شما را با خاک یکسان میکنیم .

و پرچی حرفهای روس را چون بلندگوئی بیجان بلند - بلندگفت .

وصدای خطیب از کنار محراب پاسخ داد : خدا از خانه خود دفاع میکند ، و ما از خانهٔ خدا دفاع میکنیم ، و همهٔ تانرا نابود میکنیم انشاء الله .

آفتاب زرین هرات غروب کرد .

حیدر فرمان داد ، یک عده نماز بخوانند و عدهٔ در سنگرها باشند تا در جماعت دوم نماز را ادا کنند .

صدای قرائت قرآن در گنبد مسجد پیچید و در گنبد کبود آسمان طنین انداخت .

پرچی به روسی گفت ، حالا بهترین وقت حمله است ، چون آنها همه مشغول نماز هستند .

افسر روسی بعد از لحظه تردد و ترس در دستگاه مخابره فرمانده صادر کرد ، با اسلحهٔ خفیف حمله را شروع کنید ، اسلحهٔ ثقیل بکار نبرید که مسجد خراب میشود ، ما میخواهیم این عمارت زیبا را برای ستدیوی فلمبرداری حفظ کنیم ، هرچه میتوانید فقط آدم بکشید .

و سپس اولین گلوله را از توپ تانک فرماندان هوائی آتش کرد

در یک لحظه هزاران گلوله از چهار طرف بر مسجد باریدن گرفت و مجاهدین هم از درون خانهٔ خدا، که سنگر آنان و پناهگاه آنها بود، گلوله ها را با گلوله ها پاسخ گفتند، جنگ شدیدی درگرفت که برای تقریباً دو ساعت دوام داشت.

حیدر به ساعت خود نگاه کرد، چند دقیقه به ۹، شب مانده بود و قوای کمکی به زودی میرسید، ازینرو حیدر راکت اندازها را فرمان داد، که همزمان آتش کنند. در یک لحظه چندین تانک به هوا شد و به شعله های نارنجی رنگ تبدیل شد، از جمله تانک فرماندانی که از آغاز مورد نظر حیدر بود و حدس میزد که باید افراد مهمی با پرچم بلندگو در آن باشد، با یک ضربت راکت خود حیدر به جهنم تبدیل شد، محاصره روسها شکست و تانکها رو به فرار نهادند، اما درین وقت قوای کمکی سر رسید و اردوی سرخ فراری را در میان دو سنگ آرد کرد، روسها هم که در تلک افتاده بودند، ناگزیر تا پای جان به مقاومت پرداختند.

آنشب هرات تا سحر نخوابید، همه شب تا سپیده دم آتشبازی و آتشباری ادامه داشت، هنگام سحر که صدای «الله اکبر» از منارهٔ مسجد بلند شد، هنوز از تانکهای سوخته دود غلیظی در هوای صبحدم بسوی آسمان میرفت.

غوره څوکی

چې د بهاري په سبا د واړه کلي پاتې کسانو ، خپل مړي خاورو ته وسپارل نو د هجرت په فکرکې ولويدل او په کوڅه سره ډېلارنيکه له وراني مينې کوڅه واخيستله. په دې واړه بهيرکې ښايسته کل ماما خپله بستره په غاړه اړولې وه او برګې سپې يې له شاورپسې روان وو .

د پنځو شپږو کورونو پاته عنړۍ له ډېرلږ فرش وظرف سره راوتلې وو ، نورهرڅه تړې سوې يا تر خرڅ راوړنو خاورو لاندې پاته شوې وو .

دغه شان د هرکال په يو د وه تنه د خداى پاک د مرحمت غنيمې ته تللې وو . يواځې يو ښايسته کل ماما وچې هيڅ تاوان هم نه ګورسيدلې ، داڅکه چې د ه ته خپل خپلوان لرل نه کورکې ، نه د هستې خاوند وو او نه يې شخصي سرپناه لرله له ژوندې سره يې دغه يو سپې درلود چې د سرې اولهستې يې يو د وه جوړه جامې اوږه وړه بستره لرله چې اوس يې هم پېښکه په شاپورې تړلې وه خو په دې برسپره يې هم د خوا بدون اندازه تړنوروکمه نه وه .

ښايسته کل ماما به په عمر ښايې د پنځو سوشا وخوا وخو تر اوسه يې واده نه

و، کړی درست عمر یې په دغه وران کلی کې په پالېزوانی او باغوانی تېر کړی و، هغومره به یې ګټل چې ببرته به یې خټل.

سپی یې هم لکه چې خپله بد خو بونه لیدلی وو خو ریږ ونه له شاورپسی روان و، نه یې هغه پخوانی ډېرمنډې وې نه هغه په ځای یې ځایه غبل، ژبه یې را ایستلی وه اولنګلنډه ساه یې اچوله تا به ویل چې ډېری منډې یې کړې او اوږدې لارې یې وهلی دی.

دورکوکی وواړه بهیر په پټه خوله لاروهله، هر سړی دغو نو اندېښنو په دوړو کې پټ وو.

چې خپله لاروو هله شوه بنا یسته ګل ماما شپاته وکتل په خپل سپی یې - تړګی - ولګېده یې بېګڼی تصمیم ورپه زړه شو د ردېد او تړلې بستره یې خلاصه کړه یوه کلیه یې تړې راواخیستله چې پښه ته یې وتړله او ببرته یې په بستره کې ونغښتله او بستره یې په غاړه واړه وله.

سپی تلپاتې دوډی بوی ورځې پښوته یې و رغښت ده غوړه څوکه (کلیه) په لاس کې نیولې وه نه پوهېده چې ورواړې چوی که څرنګه.

په دې غوړه څوکه (کلیه) کې یې خپله کوچله اچولې وه، ده غوښتل چې ځان ورپاڼلې له سپی خلاص کړی ځکه نور خپل کور کلی او پاڼزندوی خلک نه ووچې دی ورنخه د خپل برګی دکورپخپا پوښتنه وکړای شی، نه برګی دومره شی وچې ځلېږی وساتلی شی. برګی یوکم ځانی او په عین حال کې یې کماله سپه ووچې هیڅوا یې هم ساتنې ته زړه نه ښه کاوه داسی معلومېده چې په لومړو ورځو کې لا دچا ورته هیله نه وه چې غوږ ورونه اولکه یې اوږده پاتې شوی وو، علاوه پردې یې دپټې خولې اچولو اودماشومانو دجا موخیږلو عادت هم درلودچې کلیه اوورته

نیمه سینه نه وه لګزه بنایسته ګل ماما وراندی سخته خوابدیده اوچاقه نه-
ورته ویل خواوس مخ په پرديسي راوتلی وو. پردی کلی اوبیګانه اولس به د دې زړه
ته څه وګورې؟ نوځکه دې دا ټوله ځان سره په تېښتګه پتېیلې وه چې نخواتر هغه
چې په برګی له نورو خلکو سره تنهې شکوی دا به غوره وی چې ځان تري اسوده کړی
خو چې نیت به یې وکړ د سپي خوشامند او د زړه زاریو ته ګیږوبه متردې کړ، تابه
ویل چې سپی د بنایسته ګل ماما په نیت پر هیدلی وو په مظلوموستړګو به یې ورته
د خدای پاری لمن کړه اوله خپلو عاجزانه حرکاتو به یې دا لکیل ورته تمثیلوله
چې آخر «خاوری راغلې په ایرو پوری یې واړول ایري بادیوړې» ماپه دوه ړه
لوی عالم کې ستالمن وښوله، ستا په وجه لنده می قناعت وکړ ستا سره می دعمر
شپې ورځې ټېرې کړې، له تاسره می د زړه مینه وبالله - چې ته به په درانه
خوب ویده وې ما به په تا پېړه کوله او د دې شپې به می تاته رو ښولې - ستا -
په هرځله زهیریدم ژوند می ستا په ژوند پوری غوټه کړی وو او.....
خو ته اوس دا هر څه په مقابل کې ماته کوچله کړ زوی - آخر ظالمه څوک
هم داسی کوی؟!..... بنایسته کړته به خپل نیت ډیر ظالمانه بنسکاره

شوه او په زهرو لړلې خوکه به یې په جیب ومنډله. هغه وسرخ به ورپه-
زړه شوه، چې دی د خپلې رسیدلې پالنې خواته ناست و، د ماشومانو شود
او د سپي کوږ چا یې اوریده. یې څښتنه سپي ځان ترده پورې راورسیدلې وه
او په ډېر عاجزانه یې ده ته د خپلو بد مرغیو داستانونه او ورول -
هغه وسرخ یې ورپه زړه شوه، چې سپو مړو رلی او ماشومانو په کانړو
او لرګو ویشتلی او وهلی سپی دده په پښو کې پرېوت او له ده څخه
یې پناه وغوښته -

هغه وسرخ یې ورپه یاد کړه، چې په وینو او خاورو وختې لړلې سپی

تړه پورې ځان راورساوه او ده لاس ورباندې وښوې.

بنايسته کل ماما په دوه کې وکه چې وتړلای د وفا شرط نه و، دیارې دوستۍ تقاضا نه وه، دده د پټې ضمیر غوښتنه نه وه، که چې نه وتړلای په اوږه ده سف وتل و، نا اشنا کلي. بنارونه چې په مخ کې وو، له هرچا سره چې دده په سر دعوې - دنګلي په وس کې نه وې؛ برګې نه د ځان دساتلو و نه چې څه دامې تربیه شوې وه، چې څوک ورته غمه نه ووایي. هره ورځ به چې ماشومان پسې اخیستي وو، هر وخت به چې د کلیوالو په لوښو بوې ایستلې و، او تل به چې د کاونډیانو د چوکۍ هګۍ په غلا خوړلې او چوچوني به چې ترهولې وو، خو د کلیوالو کور ودان، چې خبره چې د برګې وراڼه ته نه ایسته اوس هم هغه برګې دی - هغه چې خوښونه عادتونه دي.

بنايسته کل ماما خو ځله څوکه راوایسته او خو ځله چې بېرته پټه کړه، په اندرونۍ کشمکش اخته و، عقل او وجدان چې یوې خوا هم میدان نه خوشې کاوه.

بهیر په پټه خوله لاس وهله - هریو په خپلو سوچونو کې ډوب و د هرچا په زړه د پروت غمونو زخمونو کړل او د سبا اند ښلنو چې د عقل ستړکو ته لاس. نیولې د مجهول سرنوشت په لورې تهل واهه. د بنايسته کل ماما خواته د هیڅوا هم پاڼه و، صرف یوکل خان ورته متوجه شوی و، چې د څوم خُل د پاره بیا بنايسته کل ماما کلیې را وایسته، نو کل خان ورته وویل: ماما دا دې له. سبې سره څه لویه راځیستې ده، چې کلیې ورته راوباسې ورښکاره چې کړې - د سپې اشتها ورته وپاروې بېرته یې ترې پټه کړې.

ماما ورته وویل: خبره دا ده، چې برګې د ې کاله را سره تېر کړې دي، اوس چې که را سره بیایم وبرېښم، چې په بدیو به مې اخته کړي. که چې برېښدم جانته چې برېښدم، نه مې لوږېږي، که چې وژنم د خدای (ج)

تفسیری از آیات قرآن حکیم

بسم الله الرحمن الرحیم

افمن کان علی بینة من ربه کمن زین له سوء عمله واتبعوا اهواءهم
مثل الجنة التی وعد المتقون فیها انهر من ماء غیر اسن وانهر من لبن
لم یتغیر طعمه وانهر من خمر لذة للشربین وانهر من عسل مصفی ولهم فیها من کل الثمرت ومغفرت من ربهم کمن هو خالد فی النار
وسقوا ماء حمیما فقطع امعاءهم ●

(سورهٔ محمد : ۱۴-۱۵)

آیا پس کسیکه بر طریقهٔ روشن پروردگار خود باشد مانند کسیست که بدکاری اش برایش مزین کرده شده و هوای نفس شان را پیروی کردند.
صفت بهشتی که برای پرهیزگاران وعده داده شده است (این است که)
درآن (بهشت) جویها ئیست از آب که به دیر ماندگی متغیر نشده است
و جویهای از شیر که طعمش تغیر ننموده و نهرهای از شراب لذت بخش

له قهره وپرېږم ، چې دی راسره د وېره مینه کوي او زه يې مړ کړم . بېګا مې دا فیصله کړې وه ، چې کوچله به وسکړم مړ به شي او زه به يې غمه تري لاړ شم ، خو که مې کوچله په غوړې خوکه کې ورته پخه کړه ، خو اوس مې زسره دا نه راسره مني . نو خدای ې ښته لاس رانه ورکه ده ، چې خه وسره وکړم ؟...

کمل خان ورته وویل : چې خبره داسې ده ، زه وایم چې که نورو کسانو اخیستې وې ، ښځې او ماشومان به امن ځای ته رسوي ، چې وارخطای په ځای شي ، جهاد ته به په خلاص مټ راوګرځي ، ته په چا وپرېږې چې ځان وسرکوې او ما بېګا هم دا درته ویلي و ، چې له یوه سپي زره نه کیږي او بې خاونده يې نه شي پرېښودلای وطن او دپلار - نیکه هدیرې چاته پرېږدي ؟...

بنایسته کمل ماما خه شیبه سوچپونو واخیست ، چې وسوستی تصمیم يې ونیو ، د کمل و مخې ته ووت ، و دویده او یې سك آواز يې وویل : خویندو وسړیو و دربږئ ، چې خدای پامانې سره وکړو ، زه مې د پلار - نیکه وطن او د بې کنا هو شهیدانو قبرونه د دین او ناموس غلیمانو ته نه شم پرېښودلای !

چون بود مرد پر دل و سرباز
نخجیر او چه کوته و چه دراز
گر کنون کوته است این شمشیر
تو قدم پیشتر گذار چو شیر

(استاد حلمی)

خونریزی څوک کا دی دا د چا کار؟
دی د چنګیز او د ایتلا کار

چې لیمه وچ کا د چا په مینه،
دی د مسیح او د مصطفیٰ کار

۵۵/۷/۲۵



بدل

پښور- شپږ ساعته پرله پسې يې د غزه په لمن کې لاړ ووهله خو نه په کوم آباد ځای ورپښې شو، او نه يې اوبه وموندلې . په لوړه باندې نه پوهيده ، خو تنده يې ډېره زياتيده . مازيګر شو اود سپين غر لوړې-ژورې لا هيبتناکې په نظر ورغلې . په يوه هسکه غونډۍ باندې وخوت . شاوخوا ته يې ډېر وکتل ، هر لوري ته سپېره غرونه وو . نه د اوبو نښه-نښانه وه ،او نه د دوه بڼلو. بيا يې په لوړ آواز نارې کړې : « هاآآآی ، خوله شته ....» يوازې يې د خپل غږ ازاکه واوريده ، چې په لوړو کې تاو-راتاو شوه . شيبه-نيمه وروسته يې يو کربټ وليد ، چې د لوړو څوکو په لور والوت .

پښې يې بې‌سېکې وې ، زړه يې دوبيده او د دريدا حوصله پکې خته وه . په غونډۍ باندې کښناست او له خو دقيقو وروسته وغزيده.

خو کاله د مخه يو ځل په ايران کې اوبو وړې و . ډېر تلاش يې کړې و ، خو بې‌ګټه درياب نه و پرې اېښې . وريادشول ، چې دکرداب په خوله کې يې بې‌حده سترپا محسوس کړه ، پښې او لاسونه يې له حرکته ولويدل او د څو ثانيو دپاره يې د مطلقې ناهيدۍ په وخت کې جسمي

آرامش بیاموند . په هغه ځل خوك لامبوزن راپیدا شو او دی یې له مرګه وژغورو. له ځان سره یې وویل : آیا دا ځل به هم څوك له غیبه راپیدا شي او لاس به راکړي ؟ ګومان نه کوم ، زه دومره بختور نه یم ، چې ورروسته له نخ اخیستلو دې په تورو خاورو کې پټ شم . کاشکې خوځوك وای ، چې په تورو خاورو کې یې پټ کړي وای . خدایزده ، چې غوښه به یې د لېوانو په نصیب وي، او که د کارغانو ؟! ای خدایه ! د خواري او پردیسي او بېلتون غم دومره ونه ځپلم ، لکه د انتقام اور ، چې برباد کړم . نور غمونه زړه خوري ، خو د انتقام غم روح خوري ، ضمیر خوري او وجدان پکې اوتر وي ....

په ټول زړه کې یې یواځې یوه کینه پاتې وه ، ده غوښتل ، چې له دښمن سره وجنګیږي ، د پس جهاد وکړي او بیا ومري ، خو اوس یې دا سې محسوس کړه ، چې نصیب ورسره مل نه دی ، ژړا ورغله او ستړګو ته یې اوښکې ودریدې . دی د مرګ راتلو ته وارخطا نه و ، خو د انتقام اور په آرامه نه پریښود او زړه یې د بدل نه اخیستلو حالت نشو زغملی .

لمر د سپین غر په غربي څوکو پریوت ، د مابنام تن راتلو د مخه د غرونو سیوري لا هیبتناك او سهمناك شول ، خو ده په دې ټوله دنیا کې یواځې یوه بلا لیدله او هغه د یې کساته ژوندون تصور و .

وږو - وږو په ځان پوه شو ، چې بې هوشي یې خپلې خواته راکاږي د خلکو دا انګېرنه یې په ذهن کې وربېره شوه ، چې د انسان خته له کوم ځای نه اخیستل شوي وي ، نو هاغلته بېرته یې . هګه کلکه او وچه وه ، آسمان ته یې وکتل او په زړه کې یې وویل : ای لویه خدایه! زما

خټه له څومره وچې او تږې خاورې نه اخیستل شوې ده ، زما د مرګې ځای په هر بد دی او زما د مرګې نېټه په هره نامرده ده . زه زندګی د جهاد په شروع کې پرېښود لم . ژوند هم نامرده و، او مرګ هم نامرده دی ، . . . کلیه یې وویله او بیا یې هوښې او خوب دواړو له حاله وبوست .

دی تمامه شپه یې حاله و . سحر شو ، لمر تېز لګیده او باد هم لکه وږی لېوه په لوړو - ژورو چټک تیریده ، خو دی هاغسې یې هوشه غونډې سپروت و .

یو وخت یې محسوسه کړه ، چې څوک یې ښورووي ، سترګې یې وغړولې او تر هرڅه د مخه یې وویل : په هر تږی یم .

چا چې راویښ کړې و ، هغه خپل ملګری په اوبو پسې واستاوه ده د آس د پښو د ربې واوریده ، سترګې یې شاوخوا وغړولې او ناست سړي ته یې په ځیر - ځیر وکتل .

مجاهد ځنې پوښتنه وکړه :

- ورووره د کوم ځای یې، څنګه دلته راپېښ شوې یې ؟

- زه د مقر راوسیدونکی یم . د جهاد په نیت راځي شویم ، یوه شپه مې پر لاره وه او دوه یه شپه نصیب دلته رابانده راوسته .

مجاهد ته د هغه مختصر ځواب ناکافي ښکاره شو ، ځېنې نورې پوښتنې یې هم ځنې وکړې . ده ټولې پوښتنې واوریدې او په یووارې یې ځواب ورکړ :

موږ راته څوکاله پخوا د پنځه - پنځوسم کال په پسرلي کې واده وکړ

ولور او د واده مصارفو پوروې کړو . د واده لا میاشت نه وه تېره چې د پور والو په عذاب کړو ، د کور - کلي خلکو او حتیٰ خپلې مایټې ته یې کم راوستم ، خو آسمان پورته و او ځمکه کلکه . مور مې هم له دې حاله ډېره په تنګ شوه ، یوه ورځ یې راته وویل ، چې زویه ! ډېر ځوانان په دې ورځو کې ، یوې - بلې خوا ته په خوارۍ - مزدورۍ پسې ځي که دې خوښه وي ، کوچنۍ ورور دې هم اوس کم نه دی ، کار کولای شي ، یوې خوا ته یې ولېږه . مګر ما مور ته وویل ، چې ادې ! هغه لا کوچنۍ دی ، زه به یوې خواته ولاړ شم . مور مې خبره ردې کړه او راته یې وویل ، چې تا تازه واده کړی دی ، که ډېر وخت نه تېروې نو ځو میاشتې ، خو بایده دي ، چې په کور اوسې . خو زه ډېر خفه وم ، ما حتی په کور کې هم چاته پورته نشوای کتلای . مور مې رضا کړه او ما له ځو نورو ځوانانو سره یو ځای د ایران مخه وکړه .

په ایران کې به مې خښتې وېستلې او پیسې به مې وخت په وخت کور ته رالېږلې . یو وخت له کوره خط راغی ، چې زوی دې پیدا دی ، او ځو میاشتې وروسته له دې پېښې د ورور خط راغی ، چې پورونه ټول خلاص شول ، ادې دې ډېر یادوي ، که ښه کوې ، کور ته راشه ! خو ما په ځواب کې ورته ولیکل ، چې اوس لا نه درځم . چې کومه ورځ به ډېر ستړی شوم او یا به ولن رایاد شو ، نو د بې وسۍ ورځې به مې را په زړه کړې او په هغه ورځ به مې تر نور کله ډېر کار وکړ . ما نیت کړی و ، چې د کوچنۍ ورور د ولور پیسې به هم کتم

خته له خومره وچې او تږې خاورې نه اخیستل شوې ده ، زما د مرګ ځای یې بد دی او زما د مرګ نېټه یې نامرده ده . زه زندګی د جهاد په شروع کې پرېښودلم . ژوند هم نامرده و، او مرګ هم نامرده دی ،... کلیه یې وویله او بیا یې هوښی او خوب دواړو له حاله وېوست .

دی تمامه شپه یې حاله و . سحر شو ، لمر تېز لګیده او باد هم لکه وړی لېوه په لوړو - ژورو چټک تیریده ، خو دی هاغسې یې هوشه غوندې ټپروت و .

یو وخت یې محسوسه کړه ، چې څوک یې ښوروي ، سترګې یې وغړولې او تر هرڅه د مخ یې وویل : دوبی تږی یم .

چا چې راویښ کړی و ، هغه خپل ملګری په اوبو پسې واستاوه ده د آس د پښو د ربې واوریده ، سترګې یې شاوخوا وغړولې او ناست سړي ته یې په ځیر - ځیر وکتل .

مجاهد ځني پوښتنه وکړه :

- ورورو د کوم ځای یې، څنګه دلته راپېښ شوې یې ؟!

- زه د مقر اوسید ونکی یم . د جهاد په نیت راوتلی وم ، یوه شپه مې پر لاره وه او دوه یه شپه نصیب دلته راباندې راوسته .

مجاهد ته د هغه مختصر ځواب ناکافي بښکاره شو ، ځېنې نورې پوښتنې یې هم ځني وکړې . ده ټولې پوښتنې واوریدې او په یوواري یې ځواب ورکړ :

مور راته څو کاله پخوا د پښې - پټوسم کال په پسرلي کې واده وکړ

دوستان- اشنایان را په یاد شول . دېرې هېرې خبرې مې ذهن ته راغلې او حتیٰ هغه دوعا هم رایاده شوه ، چې مور به مې راته کوله: زویه ! خدایٔ دې د دوه بول له پوره وساته او د ظالم له زوره ! مخکې له دې ، چې موټر حرکت وکړي ، چا زه تر مټ ونیولم او راکوز یې کړم - د یوه منصبدار غږ مې واوریده ، چې عسکرو ته یې ویل: دا خبیث لوی جاسوس دی ، له ده سره ډېر راغونه دي ، دده تحقیق باقي دی ، بې وخته یې په موټر کې مه لېږئ !

زما دا یو «یه» دوی ته ډېر شکونه ور اچولي وو ، او له مایې ته کیده ، چې اسرار به معلوم کړم . څه سر دې خوښوم ، زما هغه شپه لا نصیب په پلچرخي کې وم ، او سبا مازیګر په ټوپ بندیخانه کې بندیانو راته وویل ، چې دا ګردېز دی .

په ګردېز کې راباندې کلونه تېر شول ، خو نه له ما چا تحقیق وکړ او نه مې وس ورسید ، چې «مقر» ته احوال واستوم او د کور والو له خپله حاله خبر کړم . زه په ګردېز کې وم ، چې «تره کی» مړدار شو د «امین» باچهي شوه ، هغه هم پسې لاړ ، او روسان راغلل ، خو نه چا زما تحقیق وکړ ، او نه مې د بند وخت تعین شو .

یوه هفته د مخ ېې دوه - دری موټره بندیان له ګردېزه کابل ته رالېږل ؛ په دې بندیانو کې زه هم وم . زمونږ په کاروان باندې د لوګر مجاهدینو حمله وکړه ، عسکر تسلیم شول او مونږ له څېنو عسکرو سره د «پاکستان» مخه وکړه .

په «پاکستان» کې مې په پوښتنه - پوښتنه کلیوال وموندل ، هغوي چې

به زه ولیدم، نو به ښځې راته حیران شول؛ د دوی د هریوه زړه ته دا لویدلې وه، چې زه مړ شوی یم.

زما ورور او مور تر هرات او کابله پورې په ما پسې راغلي وو په هرات کې یې ورته ویلي وو، چې ستا سو سړې «اشرارو»، وژلی دی. د مور زړه مې نه و هیرشوی، کابل ته راپسې راغلې وه او عریضې یې کړې وې، دلته یې هم وروسته له خو اونیو انتظاره ورته ویلي وو چې هغه وژل شوی دی. زما نوم د مړو په بنه یانې په لست کې هم و او په دې دول د کلي-کور خلکو زما له ژوندې لاس ویښلی و.

د سوسائټو دیرغل په ابتداء کې مې مور بیا په پور پیسې موندلې وې او کابل ته راغلې وه، په کابل چا زړه سواند سړې ورته ویلي وو، چې هسې بې ځایه پیسې مه لګوه، مړې نه راژوندي کیږي.

دوی به هریوه زما د مرګ کیسه تېروله او حیران-حیران به یې راته کتل، ما هریو جدا-جدا په کیسه پوه کړ، مګر د دوی حیرانتیا نه کیده. لږ-لږ تشویش راپیدا شو، چې خدائ دې د کور والو ته خیر پېښوي، خو د کور د غړیو په برخه کې به هریوه قسم خوږ، چې خیر-خیریت دی او دچا کوته هم ویني شوې نه ده.

مازیکر مهال و، چې ځان مې د کور د دروازې مخې ته ولید، شیبه-نیمه د ورې مخ ته ودریدم، غوږ مې ونیو، خو د چا آواز مې نه واورېده نکه څوک چې بېردي کور ته ننوځي - زړه بې زړه کور ته ننوتم. مور مې ولیده، چې د کوټې مخې ته د مازیکر لمونځ کوي، تر پښو دېره زهیره راملومه شوه، خو شکر مې وویست، چې بنه ده دا خو ژوندۍ ویښه

زه د مور ثنا ته ودريدم ، د هغې خپل لمونځ کاوه ، د کور په غولې کې نور څوک نه بنکاريدل ، شاوخوا ته مې وکتل ،زمونږ د غواګانو کور په ثمباندو کې مې يواځې يو چيلم وليده ، چې د کوڅې د کړکې څنګ ته اينبى و ، مور مې لا په لمونځ لګيا وه ، چې د کړکې له شيشو نه يو اووه - اته کلن ماشوم راښکاره شو ، د ماشوم په غږه کې يو بل کوچنى و ، چې زه يې وليدم ژړ ايسته شو او اوږې يې پورې کړه .

مور مې د لمانځه له کولو وروسته جاى نماز راټول کړ،او بې له دې چې ما ته يې راپام شي د کوڅې خواته ولاړه . دا مخ ته وه او زه ورپسې شوم دا کوڅې ته ننوته ، جاى نماز يې په بستر باندې واچاوه او غونډتل،چې بېرته مخ راواړوي ؛ په هغې وخت کې زما زړه بې اختياره غوندې شو ، د غم او خوشالۍ نه سېوا يو بل حالت راپيدا شو ، زړه مې داسې ولاړ لکه په کوچنيواله کې چې به په تال کې زګيدو او اوبو دې پښې به موخوړې په داسې وخت کې چې دې لا پوره مخ نه و راړولى ، ما ورباندې غږ وکړ : ادې ! دې ماته وکتل ، سترګې يې زما په سترګو کې ښخې شوې اوحيرت واخيسته . په خوله يې هيڅ هم نه وويل ، خو لاسونه يې راوړاندې کړل او زما لاسونه يې تينګ ونيول . ما يې لاسونه مچه کړل او بيا مې ورته وويل : ادې زه يم ،غلام سرور يم ، ژوندى راخلاص شوم !!!

خو دې څه نه ويل او زما لاسونه يې هاغسې تينګ نيولي وو ، ما بيا ورته وويل : ادې ولې خبرې نه کوې ؟! زه دا دى راخلاص شوم ، مـړ نه يم ، ژوندى يم.... خبرې وکړه ، حال راکړه !

مور مې څو دقيقې وروسته راته وويل : راخلاص شوې ؟ ما ورته

برای نوشندگان وجویهای از عسل تصفیه شده و ایشانرا بست آنجا هر نوع میوه و آمرزش پروردگارشان .

آیا خداوند (ج) طی این آیات نابودی، شکست و رسوائی اقوام ونیروهای باطل گذشته را در مقابله با نهضت اسلامی ما ارتباط به روند وخط آنان توضیح میکند روند حق پرستان با خط باطل پرستان تفاوتها دارد، که این تفاوت و امتیاز، خود دلیل عواقب متفاوت و مختلفی است که در فرجام امر هردوگروه مذکور با آن مواجه میشوند، عنصر تعین کننده در سرنوشت انسان خط و روندیست که انتخاب میکند- نه وسائل و امکاناتی که درینطریق بکار میگیرد، وسایل و ذرائع وقتی مفید و مؤثر است که در جهت سالم و به نحو شایسته بکار گرفته شود، ولی اگر در طریق استفاده ازین وسائل، از هوای نفس تبعیت شود، و درجهت فساد و بدکاری و برای زشتی و پتی ها استخدام گردد. ودرخدمت تقویهٔ شر و فتنه باشد- نه تنها مفید نیست، بلکه به عوامل هلاکت و تباهی تبدیل میگردد، پیروزی و شکست در نهضتی و چگونگی خط و روند آن نهضت مربوط است، نه به چگونگی وسائل و امکاناتی که افراد نهضت به آن مجهز اند، ویا دشمن از آن برخوردار است. این حقیقت مسلم را ما در هر انقلاب وتحولی با وضوح مشاهده میکنیم. در برابر دستگاه های جابر و مسلط وقت که از مواضع به ظاهر مستحکم و ونیرومند برخوردارند، نهضتی در سطح افراد چندی آغاز میشود که در سنگر ضعیفی بکار میپردازد ولی پس از مدتی دستگاه های نیرومند مذکور در برابر همان افراد چند سقوط میکنند .

وخندل او وې ویل : دا دی ادې ، وینې مې ، روغ-رمتې یم ! چې د چا اجل خدائ نه وي پوره کړې ، هغه نه مري ؛ ماته کلیوالو ټول حال راکړ ، زما له جهته په تاسې باندې وېرې سختې تېرې شوې دي .

زما د خبرو په پای کې پې راته وویل، چې کښنه : دا زما څنګه ته کښاسته او زما لاسونه پې لا په خپلو لاسونو باندې ټینګ نیولې وو . ما بیا وپوښتله ادې ، خیریت دی ؟ دې ځواب راکړ : ټول ښه دي ، زه ښه یم ، ورور دې ښه دی ، ناوې ښه ده ، زوی دې ښه دی ؛ ټول روغ-رمتې یو .

شېبه - اووه د قیقې به لا نه وې وتلې ، چې ورور مې راغی ، دهغه اوس په مخ باندې تورې ږیره وه . ما له سترګو نه وېښتانه ، خو ده که څه هم له ما سره په غېږ پوښته وکړه، مګر نه پې وېښتندلم . ماورته وویل زه «غلام سرور» یم ، له بندیخانې راخلاص شوم ، دا دی ژوندی یم د مرګ آوازه مې درواغ وه . دی هلک - پلک شو او پې له دې ، چې څه وویې ، راولاړ شو او بیا پې غېږ راکړه . ما له هغه سره خبرې کولې او له ایران څخه د راتګ او د بندیخانې لنډه داستان مې ورته تېر کړ . د مور مې لکه چې ورو - ورو یقین راغی ، چې ژوندی یم ، نو زما لاسونه پې خوشې کړل او راته پې وویل : زویه ! وږی به پې ! ماورته وویل چې، نه ادې ، بس لږ اوبه راوړه ! دې او به راوړې او په خبرو - خبرو کې پې څوکۍ په "تندې بنکل کړم . څه وخت وروسته ماشوم چای راوړ . مور مې، ماشوم ته وویل ، چې ورشه، له پلار سره دې پوښتنه وکړه، خو هغه راته وکتل ، وشرمید او له کوټې ووت . ما له مور څخه د ناوې پوښته وکړه ، دې ځواب راکړ، هغه بدمرغه ښه ده ، کاشکې خدائ اخیستې وای..

- ولې راښکاره نشوه ؟

دکور په کار به ګډیا وي ؛ آخر به راشي .

ما دا ګومان وکړ ، چې د دوې اړیکې سره خرابې شوې دي . خه مې نه ووېل او له نورو خواوو ورسره وژغنیدم .

زوی مې څو ځلې د ورځې پرده پورته کړه ، خو د راتلو جرئت یې ونکړ . آخر راغی او یوه ورځ ځلې یې هم په غږ کې وه ، ماله ادې پوښتنه وکړه ، چې دا ځلې څوک ده ؟ دې ځواب راکړ ، چې دا دې ورځره ده . ما هغه راواخیسته او زما په غږ کې آرامه کښا سته .

ورور ته مې ځ راواړاوه او ورته مې وویل ، چې واده دې مبارک شه! هغه څه نه وویل ، خو مورته مې بیا ژړا ورغله . زه ګنګس وم او نه پوهیدم ، چې کیسه څه ده ؟

په دې منځ کې مو د ماخوستن ډوډۍ وخوړه او زما له راتګ نه درې - څلور ساعته تېر شول ، خو د دوی حیرانتیا او پریشانۍ کم نشوه .

ما خوستن مې مور د لمانځه د پاره ولاړه شوه او ورور مې هم په خه کار پسې د باندې ولاړ . ماله خپله زویه پوښتنه وکړه ، چې ادې ولې خفه ده ؟ هغه راته ووېل ، چې نه پوهېږم . ما بیا ورته ووېل چې ستا مور خو به ورسره جنګ نه وي کړی؟ ده بیا « نه » ووېل . بیا مې وپوښتل ، چې د دې ځلې له مور سره خو به یې خوا نه وي بده کړې؟ ده راته وخندل او ویې ویل : دا خو زما خور ده ! ما ورته ووېل ستا خور د چا لور ده ؟ ده ووېل : د کاکا لور ده . زه د ماشوم له خبرو پوه شوم ، چې کیسه څه ده او د مور - ورور او حتی د تولو

هغو شناخته وو د ې حده حیرانۍ په وجه پوه شوم ،چې ما په تېرو ورځو کې لیدلي وو .

وروسته مې ورور او مور بیا راغلل ، دوی ماته بستره وغوړوله او د خوب ې راته وویل ، خو ما ته په آسانۍ چېرته خوب راته . یو وخت مې پام شو ، چې دوی له کوټې وتلي دي او له مقابلې کوټې نه د ژړا غږ راځي ، د ژړا غږ نور هم پورې راته ،او په هدې منځ کې خوب راغلی و .

یو وخت راویښ شوم ، رڼا وه او د سحر په خره- وره کې مې ولیدل ، چې مور او ورور زما څنګ ته ویده دي . داسې معلومیده چې ورور مې تازه ژړا بس کړې او ویده شوی دی ، ځکه په اښکو ې لا د اوښکو څاڅکي نه وو وچ شوي .

ما وخت غنیمت وبالله له کوره راووتم ، په کوڅه کې یو د پیووالا دوکاندار دخپل دوکان مخې ته ناست و ؛ هغه ته مې وویل،چې فلاني سړي ته مې سلام وایه او ورته به وایې ،چې مېله دې داسې ویل :

زه له تاسو څخه نه یم خفه ، زه د ورور او د ښمن په توپیر ښه پوهېږم . زه نه غواړم ،چې د غلیم په شوند و مسکا او د ورور په بارخو اوښکې وویني ؛ زه جهاد ته ولاړم او بیا نه راګرځم !

— دخدای پامان —

شهید د هر وطن شهید دی

د جنت حوري به زمونږ شهیدان وینه

له څرمه وکه مانې

د لوی اختر (عید) ورځې ورو - ورو راښکاره کیدې ، د سیمې مجاهدینو اوعامو خلکو د اختر تیاری نیولو او ماشومانو په دې غږ خوشالي کوله چې په اختر کې به لاسونه سره کوي او هلکې به جنګوي . له مجاهدینو سره دا اندیښنه هم وه ، چې د اختر له شپو - ورځو څخه په استفادې سره به وحشي دښمن د مجاهدینو په مرکزونو بریدونه پیل کړي ، چې البته په دې باب لږ و ډیر راپورونه هم مجاهدینو ته رارسیدلي وو ، خو د وې ګومان نه شو کولای ، چې ګوندې دښمن به ددې جرأت پیدا کړي ، چې د ځکې له لارې د دوې په مرکزونو بریدونه وکړي .

څه ناڅه له شپږو کلونو څخه را په دې خوا د « دېرې میلې » او « الګډې » د سیمو ، څه د پاسه شل کلي ، د دوې خپلواکې سیمې په توګه پاتې شوې او په سیمه کې یې خپل جهادي مرکزونه فعال ساتلي وو ، په تېره بیا د « دېرې میلې » د مجاهدینو مرکز ، خو دومره قوي و ، چې د وحشي روس او د هغوی د غلامانو له پرله پسې هلو - ځلو سره - سره یې خپلې مورچې ټینګې وساتلې او په دې توله موده کې یې دښمن ته

د يادونې وړ تاوانونه ورسول . دېرې ميله د ځانې ميدان د اولسوالۍ په شمال لس کيلو- متره کې پرته ده او مجاهدين يې په دوو تنظيمونو کې وېشل شوي دي ، خوله نېکه مرغه د جهاد له پيل څخه بيا تراوسه پورې په يو مرکز کې په يو اتفاق او يوه قوماندې مقدس جهاد ته دوام ورکوي ، ځکه نو دښمن له دوی څخه زيات په وېره کې دی .

د پکتيا په ټولو سرحدي سيمو باندې وحشي دښمن پراخ چپاوونه پيل کړل او د مسلمانو خلکو د راتلونکي اختر خوشالۍ يې په وير او غم بدلې کړې ؛ دا برېدونه دومره سخت او ظالمانه وو، چې وحشي دښمن دېرې ځلې او مليزې وسلې پکې استعمال کړې او د پکتيا د سرحدي سيمو دا سې وڼه او عنه پاتې نه شوه ، چې د بم او توپ ګولې پرې نه وي لګيدلې او دا سې کور پاتې نه شو ، چې د اور د بمونو په واسطه لوړپه شوی نه وي .

د «دېرې ميلې» مجاهدين په خپلو سنګرونو کې بيدار ناست وو او ټولې هغه مهمې نقطې يې نيولې وې ، چې دښمن يې تر اور لاندې نيولای شو ، ترڅو د خط په وخت کې د دښمن د وړاندې- تلګ مخه ونيسي ، د ځانې ميدان اولسوالۍ ته لکه د پخوا په شان هم د ځمکې له لارې او هم د هوا له لارې زيات شمېر قوې راورسيده او هلته ځای په ځای شوې .

د دېرې ميلې مجاهدينو له اهميت نه پرته سيمې او نقطې تر خپل نظر لاندې ساتلې او د دښمن د برېدونو انتظار يې کاوه . د مجاهدينو قوماندان مجاهد قيس، ته خبر راورسيد، چې د دښمن ټانکونه

« اکاکهول» ته راتېر شول (د «اکاکهول» کلی د ځانګې میدان د اوسنۍ او الکډې ترمنځ پروت دی ؛ شپږ کاله پخوا له خلقي اوګومداکي دولت سره د دغه کلي د ځښنو کلیوالو د لاس لرلو له امله د مجاهدینو له خوا تر عملیاتو لاندې ونیول شو، چې له نیولې نه زیات اوسیدونکي پې له مجاهدینو سره یو ځای شول او څه-ناڅه نور کم شمېر پې ګومداکي دولت ته پناه یووړه ۰)

دا ځل د ښمن د جګړې تاکتیک بدل کړې و ، د دوی جټ الوتکو او هلیکوپټرونو د « الکډې» او «سکندرې» د کلو د پاسه الوتنې کولې او بمباري ، ټانکي پوځ د ټانکونو او توپونو د زېې هغې خواته متوجه کړې وې . د حق او باطل ترمنځ جګړه پیل شوه ، د دې برخه میلې له مرکز څخه هم یو ګروپ مجاهدین د سکندرې د غرونو وخواته ولېږل شول ، چې له یوې خوا د هغو مجاهدینو سره مرسته وکړي او له بلې خوا دې خواته د د ښمن د راتلو مخه ونیسي ، د دې برخه میلې د مرکز په جنوب ختیځ لوري پې ملیشه او پلي عسکر راد مخه کړل ؛ که څه هم د دې برخه میلې د مجاهدینو مخ د الکډې په لور اوښتی و ، خو دې خوا پې په مهمو ځایونو کې خپل مجاهدین ځای په ځای کښولي وو ، چې د د ښمن له ناڅاپه برید څخه مرکز ته خبر ورکړي . د جګړې دوه یمه ورځ وه ، د الوتکو کېنډار ، د توپونو درزم‌ار او د مشکینو کرښه‌ار د سیمې په فضا سراخیستی و ، ورځ پې تورې شپې بدله شوې وه او د یو کلي مجاهدین د بل کلي د مجاهدینو له احوال څخه پې خبره پې ساري مقاومت بوخت وو، په دې وخت کې د د ښمن ملیشه او پلي عسکر

د ډېرې ميلې مرکز ته راښکته شوې وو ، خو د هغو مجاهدينو سترګې پرې ولګيدې ، چې د دوی د ناڅاپي بريد څارنه يې کوله ، نوسمدلاسه يې خپل مرکز ته خبر ورکړ ، خو دا داسې وخت و ، چې د ډېرې ميلې کلی له درې خواوو څخه ترهاصرې لاندې راغلی و ، اما مجاهدينو روحيات وته بايلل او په يې ساري نه په شاکيدونکی مقاومت يې لاس پورې کړ ، له بلې خوا يې کليوالو ته خبر ورکړ ، چې له کلي څخه د کلوو کولو پرځای دې په کارو او سمځوکې ځانونه خوندي کړي ترڅو د دښمن له بمبارۍ څخه يې پاتې شي ، د حق او باطل ترمنځ دغه خونړۍ جګړه درې شپې او دوه ورځې د ډېرې ميلې د مرکز په شاوخوا کې روانه وه ، خو چې له مجاهدينو سره مهمات مخ په تمامېدو شول ، نو کليوالو ته يې امر وکړ ، چې کلی خوشې کړي او ځانونه خوندي ځايونو ته ورسوي ، مګر له بده مرغه ، دا داسې وخت و ، چې کليوالو د کورونو فرش او ظرف له ځانونو سره نه شـوای ورلای او خپل کورونه يې هاغه شان ډک پرېښودل ، د وحشي دښمن پوځ او ملېشه ، چې د ډېرې ميلې کلي ته راورسېدل ، نو د کورونو په سوځولو او لوټمارۍ لاس پورې کړ . دوی زما کورين او ځلور نور کورونه له پوله سامان او بستر و سره وسوځول .

په همدې شپو - ورځو کې ما د خپل تره يوځوی ، چې د م په يوه پېښه کې سخت ژوبل شوی و ، يوه سترګه يې له لاسه ورکړې او يوه پښه يې ماته شوې وه ، د تد اوبه له پاره پښاور ته راوړې و ، د بم د چاودلو په دې وحشيانه پېښه کې زما دوه تنه نورد ترونو

زامن «بخيم خان» او «جانباز خان» هم له نورو دولسو تنو سره په شهادت رسيدلي وو.

د مازيګر دري بجې وې، زه د «آی، سي، آر، سي» روغتون ته ورغلم، ترڅو خپل د ترهٔ زوی «محمد آصف» وګورم، خو چې ومې ليدل زمون د سيمې نور زخميان يې راورسول، ما د حالاتو پوښتنه وکړه هغوی له ټول جريان څخه خبر کړم، نو زړه مې صبر ونه کړ، په هدې مازيګر د کور په لور روان شوم او سبا مازيګر مهال «غوزګري» ته ورسيدم، ومې ليدل، چې د «کوچ خرم» د غره په لوړه څوکه باندې د روس او د هغه د ګودۍ ملحد دولت ناولي بيرغونه ريږي د خلکو مورال او روحيات مې، چې وکتل چندان وارخطا نه معلوميدل. زه د جامع جومات خواته لاړم هلته د خلکو ګڼه ګوڼه وه، ومې ليدل، چې مولوي محمد شاه الدين» د «مقبلو» د جبهې آمر مجاهدينو ته د عملياتو پروګرام ورکوي؛ ده خپل مجاهدين په ګروپو ووېشل او لار بشوونه يې ورته وکړه، چې د د بنمن له سنګرونو څخه دې په يو او بل اړخ باندې تېرشي، د «زند و» او «د بړی ميلې» له طرفه دې دما څوتن په وخت د د بنمن باطل سنګرونه تر اور لاندې ونيسي. ګروپونه ګروپونه مجاهدين روان وو، حالات سخت هيجاني وو، د د بنمن د توپونو ګولې د «غوزګري» په کلي کې لګيدې. ما په غوزګري کې د مهاجرو او انصارو مشران وليدل، هغوی هم د حالاتو په باب چندان اند بښنه نه وو. د خپلو کډو پوښتنه مې وکړه هغوی په غره کې تر څېړپو لاندې اړولي وو، ځکه دوی نه غوښتل

چې څوك په تكليف كړي ؛ ما په بيړه - بيړه د خپل سپين ږيرې پلار او بوډې مور ليدلو ته ځان ورساوه ، دوی د خبرې متر يوې وړې لاندې ماشومانو ته ځای اوار كړې او پر ځان يې راټول كړې وو . پلار مې چې زه وليدم خوشال شو او په مهربانه غږ يې ونيولم ، ما چې د كور غړي روغ - رټه وموندل ، بيا مې نو د هريو كليوال ښېله - ښېله پوښتنه وكړه او چې په دې پوه شوم ، چې كوم كليوال او خپلوان مې په دې وحشي او خونړې جګړه كې نه دی شهيد شوی ، نو بېرته د هغو مجاهدينو په لور وخوځيدم ، چې د راتلونكي شپې په عملياتو كې د ګډون په غرض «زند و» او «د بېرې ميلې» ته روان وو ، په هغوی كې د ځانګې ميدان مجاهدين ، د بېرې ميلې مجاهدين او د سيمې نور مجاهدين وو ، چې شهر يې څه - ناڅه دوو سوو تنو ته رسيده ، هغوی هم د مقبل د جګې مې د مجاهدينو په تعقيب له كندو نه راوښتل ، زما فكر دېر خراب و ، دا ځكه چې له يوې خوا د دښمن قوه د سرحد غږونو ته رارسيدلې وه او له بلې خوا مجاهدين د دوی د باطلو سنګرونو منځ ته ورداخل شول او دا وېره وه ، چې كه چېرې جګړه پيل شي نو د څو لاري مجاهدين به د دښمن په منځ كې راګير شي ، چې نتيجه به يې د مجاهدينو په زيان تمامه شي ؛ زه صوبيدار محمد اسمعيل مقبل له ځانه سره كور ته بوتلم ، په دې غرض ، چې ګوندې شپه به آرامه تېره كړم ، خو ټټ سهاره پورې مې د مجاهدينو د عملياتو په تشويش كې خوب و نه كړ ، د سهار د لمانځه له ادا كولو وروسته مې يو موټر كرايه كړ ، چې د خپلې كورنۍ غړي كوم خوندي ځای ته ورسوم

د سهار لمر لا نه و راختلی، چې د د ښمن هلیکوپټرونه راورسیدل او د «کوچ خرم» د غړو د پاسه یې خپلو الوتنو ته دوام ورکړ، خو نور یې د امنیت په غرض د دوی د پاسه چورلیدل، له ماسره د مجاهدینو اندښنه وه، ځکه دوی له ځان سره دا شکې او زیکویک ماشیندارې نه وې وړې، چې د ضرورت په وخت کې استفادې ترې



وکړي. په هدې سوچونو-سوچونو کې د دوی یو استازی راورسید او موږ ته یې داډ راکړ، چې مجاهدین له کندو ځخه راوباستل، نو ماهم په داوه زره د «مظفرکوټ» د کمپ په لور د خپلې کورنۍ غړي او د کلي نور سپین ږیري او سپین سري راوخوځول.

موږ چې د مظفرکوټ په کمپ کې ځای په ځای شو، له ځښتو دوستانو سره مې مشوره وکړه، چې ببرته به غوزکري ته ځو، ترڅو د کوچ خرم د غړو او نورو له لاسه تللیو سیمو د ببرته نیولو په

قرآن نیز پس از بررسی فرجام شوم اقوام گمراه گذشته که به وسائل و ذرائع گوناگونی مجهز بودند، به عنوان توجیه مسئله می‌فرماید:

کسیکه مسیر زندگی اش را در روشنائی بینات و در پرتو براهین تشخص داد و با توسل به این مشعل بسوی هدف به حرکت افتاد هرگز با کسیکه حرکتش به جلو، به برهان و دلیل امتیاز نیست و در تاریکی‌های بد وش مشعلی، فقط بحکم هوای نفس، بسوی افق نامعلوم و هدف مجهولی گام میگذارد، از تمیز زشت و زیبا و از امتیاز خوب و بد عاجز است، و زشتیها را زیبا می‌پندارد، به هیچ صورتی برابر نیست. این مطلب در جای دیگری چنین توضیح میشود:

اومن کان میتا فاحییناه وجعلنا له نورا یمشی به فی الناس کمن مثله فی الظلمات لیس بخارج منها کذلك زین للکفرین ما کانوا یعملون.

(سورهٔ الانعام: ۱۲۳)

«ایا کسیکه مرده بود پس زنده اش ساختیم (کافر بود مسلمانش ساختیم) و پیدا کردیم برای او نوری که بوسیلهٔ آن، میان مردم به جلو میرود، چون کسیست که در تاریکی‌هاست و از آن برون شونده نیست بدینگونه در نظر کافران آنچه میکنند، مزین کرده شده.»

کفر با مرگ مترادف است، فقط ایمان است که از این نجات داده، زندگی و حیات می‌بخشد و مشعلی بر فراز راه انسان قرار میدهد تا راهش را میان انبوه از مردم بسوی پیروزیها و سعادتها بکشاید، در روشنائی این مشعل فروزان، دوست را از دشمن و خوب را از بد تمیز نموده، شیوهٔ

علیاتو کې له خپلو مجاهدو وروڼو سره یوځای شو ، خو خبر را ورسید ، چې وحشي دښمن په شاتګ کې او مجبور شوی دی ، چې خپلو ځوانو او ډوډۍ له سره راغونډه شي ، دوی له یو لږ زیاتو تلفاتو وروسته د شپې پټې پټه د کوچ خرم د غره د سرمورچې د زندو ، د برغه میلې او الکاډ ای تونلو مورچې له خپلو او یوه زیاته اندازه نورو مهماتو سره خوشې کړې او په منډه پې ځانونه د ځانګې میدان د اوسوالۍ مرکز ته رسولې وو ، خو یوازې د پرسونل ضد ځلور- سوه بمونه پې د برغه میلې په کورونو ، هنګلفولارو کروندو او نورو مخکې د تاریدو - راتاریدو ځایونو کې اینبې وو ، چې هغه هم د مجاهد « قیس » په مشرۍ زمونږ د کلي یو کروپ سرتېرو مجاهدینو وکښل ، د مجاهدینو کروپ ، چې کلي ته ورسید ، وې لیدل ، چې وحشي دښمن د مجاهد قیس د کور او زمادکور په شمول د کلي پنځه کورونه له ټول فرش او ظرف سره سوزولي ، د کلي د نورو کورونو څښتې قیمتي مالونه پې له ځانونه سره وړي او خوارکي مواد پې په ځکه شیندلي دي ، خو دا چې حق مټل بریالی دی ، نو آزادۍ سیمې بیا مجاهدینو ونیولې او نور څې دښمن شرمید ونکې ماتې وخوړه .

عبد الله بن مسعود گفت : از حضرت رسول (ص) پرسیدم کدام عمل در نزد خداوند (ج) محبوبتر است ؟ فرمود : نماز خواندن به وقت ، احترام والدین وجهاد در راه خدا (ج) .

(نسائی)

محمد آصف اکرام

د غلام فاروق ژوند او مړینه

د آمو د سین په غاړه د حضرت امام صاحب په بندر کې د غلام فاروق نوي په یوه غریب کورنۍ کې د عبدالقادر په نوم یو هلک و . د دې کوچې په کور کې، د ده د ډې نور زامن «عباس»، «بهلول» او «مومن» هم کوچنیان وو . غلام فاروق به په اوړي کې کله-ناکله کابل ته په کډه راته او په «برچي»، «تایمنی» او «بني حصار» کې به د نورو کلیوالو سره په خپو کې اوسیده . په کلیو کې به یې د رختونو په خرڅولو او نورو دولو-دولو آزادو مزدورۍو باندې د خپل ژوند ژبې او ورځې تېرولې ، ارزو یې درلوده ، چې یوه ورځ به یې زامن زلمیان شي ، کارونه به کوي ، او دی به د خپل ژوند وروستنۍ شپې په آرامۍ سره تېروي .

کلونه تېریدل ، د غلام فاروق ماما زامن راغښتېدل ، د پلار سره به یې په سپکو او آسانو کارونو کې مرسته کوله او د پلار لاس پرې نږدې اندازه سپک شوی و . هغه وخت راورسید ، چې زامنو ته یې د کارونو مسوولیت ورو سپارله او د کلونو-کلونو انتظار نه وروسته یې لږه په آرامه ساه راکښله ؛ خو افسوس چې د غریبو

ارمانونه هیڅکله هم د هغوی په ژوند کې نه دي پوره شوي. د ا هاغه وخت و، چې د زمریانو په وطن کې د خوګانو نسل (خلق ـ پرچم) قدرت ته ورسېد و. پولیسو، ملیشې او روسي عسکرو د هېواد په هره خوا کې ځوانان ټول او د اسلام او آزادۍ د لارې د مجاهدینو د مقابلې د پاره پې عسکري ته په زور بهول.

د غلام فاروق ماما زامن، چې په پوره آزادۍ کې رالوی شوي وو لږ هت او خپلواک ذهنیت ورته د دښمن په ډله کې د نوکرۍ خوښه نه ورکوله، او دا پې نه شوه قبلولای، چې د د ښمن د اهدافو د پاره دې پې ځایه ووژل شي. «بهلول» چې په کو چنیوالي کې د یوه ډاکټر سره کار کړي و، او لږ وډېر د دوا ګانو، او په زخمونو باندې د پټې لګولو سره بلد شوی و، د مجاهدینو سره یوځای شو او د کندوز د ولایت د «ارچې» په سیمه کې د زخمیانو مجاهدینو او کلیوالو ناروغانو په خدمت بوخت شو. «عباس» هم د مجاهدینو سره لاره پیدا کړه او د هغوی سره پې مرسته پیل کړه؛ خو ډېر ژر د حکومت د تسلط لاندې سیمو کې، د ده د پاره هم د ژوند کول چاپېریال تنګ شو. هغه د کابل ښار ته ورسېد او د هغه د ډاکټرۍ د دندې د ترسره کولو فیصله وکړه، چې مجاهدینو سره یوځای شي. هغه د کابل ښار جلال آباد ته د تللو تکل وکړ، خو لکه څنګه، چې مزدور حکومتي او د زور رژیمونه په خلکو کې ملاتړ نه لري او د ا ستخباراتو او جاسوسۍ په مؤسسو تکیه کوي. د «خاد» پولیسو دې لا د ښار د ځارنې لاندې نیولی و. ده ته پې د ټینګې موقع ورنه کړه او هغه پې بالآخره په جلال آباد کې ونیو، څو ورځې وروسته له زندانه ورک

شو . هیڅوا ته معلومات ونه شو، چې عباس چېرې یوړل شو، ژوندی دی اوکه ووژل شو ؟؟ د لس کونو زړو نورو وطنوالو په خبر پې د ژوند او مرګ کیسه خپلوانو ته معلومه نه شوه .

«موږ» د مور او پلار سره پاتې شو ؛ خو دا معلومات نه شته چې د غلام فاروق ماما کورنۍ څه شوه ، دوی ته څه ورپېښ شول مړه شول،که ژوندي به وي ، چېرته به په کوم زندان کې په تیاره او لندو کوټو کې د مرګ په انتظار عمر تېروي،اوکه به چېرته په کومه دښته ،غږ یا ښېدیا کې یو غړپ اوبو پیدا کولو دسته حیران وي ؟...

د ټولو نه غمجنه قصه د غلام فاروق ماما د څلورم زوی،قادر ده . قادر چې نور دکورنۍ په سیوري کې خپل ژوند ته دوام نه شو ورکولای ، هغه د ۱۳۶۰ کال په مني کې روسي مزدورانو ته ځان ورنژدې کړ، چې په زور پې عسکرۍ ته بوځي ؛ ده غوښتل ،چې د خدای په لاره کې ځان له وطنه قربان کړي او کلیوال پې کورنۍ ته ددې د مرګ وروسته پېغور ورنه کړي . قادر د دې سره-سره ،چې د ژوند مشکلاتو او د کورنۍ غږیبې ورته د بنوښتې او درس موقع نه وه ورکړې ، خو هغه یو زیرک ،کرښیدلی او هوښیار زلمی و،هغه په دېرو تکلیفونو ځان د افغانستان څخه راوښوست . پاکستان ته د رارسیدو سره سم تر بل هرڅه د څو ورځې د پیدا کولو په فکر کې شو ، د یوه بلد سړي سره په لاره کې کلیز شو ،خو ببیا ورو سته پې دا کار خوښ نه شو او سړې پې بنود ، بیا پې څه موده

په کراچۍ کې د نانوايۍ په يو دوکان کې کار وکړ، خو يواځې د کېدې د پاره ورته د مهاجرت ژوند خوند ور نه کړ. پېښور ته راغې او د هغه وخت د مجاهدينو د درېځکوني اتحاد د غړيتوب کارت يې د قوماندان عبدالمنان په تضمين ترلاسه کړ، د کارت نمبر او مشخصات داسې دي: ع ۴۳۲۵۹۹ ر، تاريخ: ۱۳ / ۹ / ۱۳۶۲ ش، هـ. په کارت کې د ده هويت داسې بنودل شوی: عبدالقادرخان د غلام فاروق‌خان زوی، عمر يې ۳۰ کاله، په قوم تاجک، وظيفه‌يې جهاد، اولسوالي يې د کابل د بشار درېمه ناحيه، د کابل ولايت. په کارت کې يې د لاس ليک پر ځای ګوته لګول شوې ده..

بيا دی د منان قوماندان سره افغانستان ته ولاړ، او د کابل په شېوکيو کې يې د روسي يرغلګرانو پر ضد جهاد کولو، په کال کې به يو وار پاکستان ته راته. او يو ځای-بل ځای به يې مزدوري کوله چې د ځان د پاره خرڅه برابره کړي. وروستی وار، چې دی د سرحد نه راوګوښت، په پاراچنار کې د «الوز» په هوټل کې مزدور شو مزدورانو ته بنايسته بڼه مزدوري پيدا کېدله؛ خو چې کله د بې کاره خلکو شمېر زيات شي، په تېره بيا په هغو سيمو کې، چې زيات مهاجر اوسيږي، د مزدورۍ اندازه کمه ده، او پيدا کول يې ګران کار دی. قادر به د ټولې ورځې کار په مقابل کې يواځې شل روپۍ اخيستې، په دې قادر خوشاله و. هغه ليدل، چې د هغه نه تکړه او قوي ځوانان په کارونو پسې ګرځېدل، خو کار چېرته و؟

قادر هر ډول سخت کار ته ملا تړلې وه، دی د مهاجرت غمونو

د کورنۍ سودا، د وروړ زندان او بیاځښتوب ځوراوه؛ خو متأسفانه په دې غم ځپلې او مظلوم افغان باندې هم د روسي دښمن یوې بلې وسلې یعنې نشې خپل اثر وغورځاوه. دی په چرسو باندې عادت شو او بیا یې د خپلو اعصابو د آرامولو د پاره پوډر (هیروئین) ته پناه یووړه؛ باید وواېم، چې هیروئین هم لکه چرس او شراب د روس د جاسوسي شبکو له خوا په افغانستان او افغانانو کې خوریږي، روسان په کابل ښار او عسکري قشلو کې مستقیماً او په آزادو سیمو کې د خپلو پټو شبکو له لارې د نشو د عاملو غیراسلامي پروګرام اجراء کوي.

لنډه دا چې د قادر ژوند د غمونو او تکلیفونو نه ډک شو، د شرافت ډکه د مرګ لاره یې د بې‌خونده ژوند نه غوره کړه او افغانستان ته یې بیا د تللو نیت وکړ.

د ژمي تر رارسیدو هغې د «تره» په لار د ۱۳۶۳ کال په مني کې د مجاهدینو سره یوځای د کابل په لور روان شو، خیال یې درلود چې ژمی به بهرته سرحد ته راکړځي او هلته به یې چېرته د کوم دوست او ملګري سره کرم تېروي؛ خو بخت یې د خیالونو دنیا ورانه کړه. کله چې دی کابل ته په لاره، د ځاځیو سیمې ته ورسید، هلته روسي پوځونو د هغې او هوا له لارې، په ډېر قوت سره د پکتیا په ولایت باندې بریاغه حمله کړې وه، غوښتل یې، چې په دې مهمه سیمه کې د مجاهدینو د تاکتیکي لارې بندې کړي او د ژمي په رارسیدو سره داتول غزونه او ځنګلونه د مجاهدینو څخه پاک کړي! مجاهدین، دا د لوړو غرو

د کورنۍ سودا ، د ورور زندان او بیاځښتوب ځوراوه ؛ خو متأسفانه په دې غم ځپلې او مظلوم افغان باندې هم د روسي دښمن یوې بلې وسلې یعنې ننشې خپل اثر وغورځاوه . دې په چرسو باندې عادت شو او بیا یې د خپلو اعصابو د آرامولو د پاره پودرو (هیروئین) ته پناه یووړه ؛ باید وویم ، چې هیروئین هم لکه چرس او شراب د روس د جاسوسي شبکو له خوا په افغانستان او افغانانو کې خوریږي ، روسان په کابل بښار او عسکري قشلو کې مستقیماً او په آزادو سیمو کې د خپلو پټو شبکو له لیارې د ننشو د عاملولو غیرانساني پروګرام اجراء کوي .

لنډه دا چې د قادر ژوند د غمونو او تکلیفونو نه ډک شو، د شرافت ډکه د مرګ لارې یې د پېښوندې ژوند نه غوره کړه او افغانستان ته یې بیا د تللو نیت وکړ .

د ژوې تر رارسیدو مخکې د «ترې» په لار د ۱۳۶۳ کال په مني کې د مجاهدینو سره یوځای د کابل په لور روان شو، خیال یې درلود چې ژمی به بهرته سرحد ته راکړځي او هلته به یې چهرته د کوم دوست او ملګري سره ګرم تېروي ؛ خو بخت یې د خیالونو دنیا ورانه کړه. کله چې دې کابل ته په لار، د ځاځیو سیمې ته ورسید ، هلته روسي پوځونو د ځمکې او هوا له لارې، په ډېر قوت سره د پکتیا په ولایت باندې پراخه حمله کړې وه ، غوښتل یې، چې په دې ډګه سیمه کې د مجاهدینو د تاکټیکي راتلې لارې بندې کړي او د ژمي په رارسیدو سره دا تول غزونه او ځنګلونه د مجاهدینو څخه پاک کړي ! مجاهدین ، دا د لوړو غږو

د بري هلي- ځلي وکړي ، خو هغه څه،چې په تقدیر کې وو-د تدبیر پرې زور نه رسیدو .

په روغتون کې د قادر پخلۍ میاشتې تېرې شوې ، ما د هغه څخه خو واړې د هغه د خپلوانو او دوستانو په باره کې پوښتنې وکړې د ده د خولې نه د هغه تربرونې عبد الاحد ، ځاځي ، قیوم ، ستار او غلام سخي شیخ مامدیانو د پېښور په بورډ او کچه ګړۍ کې اسټوکته درلوده . زه د هغوی په پیدا کولو پسې څو واړې لاړم او د بر وکړځیدم ما څو کوره شیخ مامدیان پیدا کړل ، خو هغوی قادر او د هغه خپلوان نه پېژندل . د جهاد د تنظیمونو سره هم د ده په باره کې ما د بر تماسونه وښول ، خو د افسوس خبره ده ، چې هې داسې څوک پیدا نه شو کړای ، چې دی ، یا د ده خپلوان یې پېژندای .

څه وخت وروسته د قادر حالت بنه شو ، خوراک یې کاوه خبرې یې کولې او کله-کله به یې یوه- نیمه ټوکه هم کوله ، هاغسې خو دی په روغتون کې څو واړې ګڼکدن ته ننوتې شو ، خو بیا به بنه شو .

بالآخره د قادر حال یو-ناڅاپه خراب شو ، دا وار یې حال بد و ؛ داسې معلومیده ، چې د ده ستړکې به د خپلوانو د لیدو پرته د تل له پاره پورې شي . ربشتیا هم هداسې شوه ؛ د ۱۹۸۵ کال د اپریل د میاشتې اته نېټه ، د دوشنبې د ورځې د ماسپښین دری بجې وې ، چې قادر د روغتون په یوه ځانګړې کوټه کې د مور پلار ، وروڼو او دوستانو نه لېرې خپل روح حق ته وسپاره

د افغانستان د آزادۍ او د خپلو-خپلواکو د لیدلو په ارمان د تل د پاره زموږ نه ببل شـــو - خدای(جلّ جلالهٗ) دې یې روح خوښ او خوشاله ساتي .

د هغه د وفات نه وروسته مو د ځینې نورو مهاجرو او مجاهدو وروڼو په مرسته ، د هغه د تکفین او تدفین اسلامي حقوق ورادا کړل ، او هغه مو د کچه ګړۍ په شمال-ختیځه برخه کې د عمومي سړک جنوب ته د اورګادي د پټلۍ سره نژدې، د مهاجرو په هدیـره کې خاورو ته وسپارله ، او دا د ترحم وړ انسان هم د نورو لسګونو زرو هیواد وال په خپل له خپلې پلارنۍ هدیرې محروم پاتې شو .

لنډۍ

راځئ چې ټول سره یو لاس شو !
په سرو روسانو باندې د بډکسې وکړو زړونه
خدایه سروسانو کې اور بل کړې !
چې په خپل منځ کې سره پرې کړې خپل سرونه
د اتحاد بیرغ کړئ پورته !
چې د روسانو په پوځ کلک شي کوزړونه
روسی سیستم دې خدائ بربادکا
دوی په نړۍ کې انسانان تباه کوینه
که د وطن په ننګ مړ نه شوم
ادکې مورې رانه مه ببنه حقوینه!
که د د بنمن په خوا ور تاو شوم
بیا مې افغان مسلمان مه بولئ عالمه!

رالیږونکی : ظریف-صدیق له توپیچ
المان څخه

برخورد و معامله با هرکی را در می‌یابد و اما کسیکه ازین نعمت محروم است به کسی شباهت دارد که در ظلمت و تاریکی به جهت مبهم و مجهول در حرکت است، نمیتواند هدفش را تشخیص دهد و قادر به تمیز خوب از بد، و دوست از دشمن نیست.

قرآن کریم درین رابطه درجای دیگری میفرماید:

لقد ارسلنا رسلنا بالبینت و انزلنا معهم الکتب و المیزان لیقوم الناس بالقسط.

(سورهٔ الحدید: ۲۵)

«ویقیناً پیامبران را با بینات فرستادیم و با ایشان کتاب و میزان نازل کردیم تا مردم به عدل و انصاف قایم باشند (عمل کنند)».

آری! فقط در روشنائی آیات بینات کتاب خدا (ج)، و میزانی که وی (ج) ذریعهٔ پیامبرانش فرستاده است امکان اقامهٔ عدل و قسط میان مردم میسر است و میتوان از ظلم و ستم جلوگیری کرد، تشخیص عدل از ظلم و حق از ناحق بدون معیارها و ملاک‌های دین خدا ممکن نیست، هر ملاک و معیاری که مبتنی بر موازین کتاب خدا (ج) نباشد، یا از هوای نفس مایه گرفته و یا برای توجیه ظلم و تجاوز بکار رفته است. قرآن کریم ضمن بررسی جنگ بدر در توجیه از پیروزی مذکور میفرماید:

اذ انتم بالعدوة الدنیا و هم بالعدوة القصوی و الرکب اسفل منکم، و لو تواعدتم لاختلفتم فی المیعد و لکن لیقضی الله امرا کان مفعولا لیهلك من هلك عن بینة و یحیی من حی عن بینة، وان الله لسمیع علیم.

(سورهٔ الانفال: ۴۲)

راشه پر قبر مې اور بل کړه !
که مې مړینې پرشا وویني تپوسنه
ترې له میدانه په کار نه دی
په بد نامۍ کې سپي موزبان په تبه مرینه
سر مې له تن څخه جلا کړئ !
که مې پتلون د بې ننګۍ اغوستی وینه
خدایۍ مې دې درولي وطنه !
دا څه ژوند دون دی، چې بې تا بردم قدمونه
تل په زحمت پسې راحت وي
چا چې زحمت لیدلی وي، راحت به ورینه
مخ یې په دوارې و خواوو تورو وي
چې د کارمل په شان نوکر د پردو وینه
پر ننګ که مرم، خو ما تې نه کړم
ځکه پرما د پښتانه ننوم یادویښه
توکر - توکر مې مورته یوپئ !
نه، چې زما له مرګه پس شکمنه شینه

توپوونکی : شېرخان بریمی د کلی کنډ له کیږ څخه

یوځلې راشه، غازي وروره !
چې سپیلنې دې په شل ډزې، دو دومه

په سپېده چاودلا رشه مرکز ته
چې له هغه بیا روسان بمبارد کوینه
چې د نفاق بڼ یې تر غوږ ته شي
د مجاهد په زړه کې بل شي سره اورونه
ز ما زړګی په درز یدو دی
په سړک جنګ دی، طیارې بمبارد کوینه
روسان خو د اسې ګاونډیان دي
چې مو په سه ـ غږ بمونه اوړو بینه
د « سکندر » چې زړه تري شین و
په هغو غرو کې نن روسان په ژړا دینه
کې افغانان خواره واره کړل
د سرو په سر باندې هم بل شول سره اورونه
کاشکې شهید وای د اسې نه وای
چې د ټوپک د اخیستو سنه یې میدانه
تورې ببرکه ! خدای د یې واخله
ستا له شامته هرځای بل دي سره اورونه
زه د وطن تر غږونو جار شم
چې یې په هره پرېشه جوړ دي سنګرونه
د پکتیا ښکلي ځنګلونه
نن پکې بل دي سرو روسانو سره اورونه

رالېږونکی : محترمه سلیمه

سید اسمعیل فاطمی

حذر نشته

چې سباوش پې د ژوندون پایښت ګڼلی
په منزل کې پې خوښي او اختر نشته
چې پالنګ پې غوړه کړې او ویده دی
په تاتوبي پې نسیم د سحر نشته
چې د سر د خطر وېره ورسره ده
په سنګر پې قوماندان د رهبر نشته
د سبا په امید دېرې شپې سحر شوې
په بستر کې استقلال د بشر نشته
که د وینو په قیمت پې مېړې غواړې !
په دې لار کې د رڼاګانو ګذر نشته
که نجات د انسان غواړې ټوره واخله !
پې له توپې په سنګر کې ظفر نشته
چې شعار پې آزادي او عدالت دی -
د اسلام په سترو ناموس کې خطر نشته
« که غوڼې پسې وهې په لاس به درڅې
چا ویلې چې په دریاب کې ګوهر نشته »
چې زنځیر پې د غلیم ټوټې - ټوټې کړ
د افغان په تاریخ داغ د حذر نشته

حبیب الله - رفیع

چار بیته

په وینو رنګ افغانستان دی
په هر یو کور کې دي ویرونه
هغه وطن ودان وطن اوس ویران دی
دي پرې راغلي ستوپانو ونه

*

دا د غوایه له بغاوته — په وطن جوړې غلبلې شوې
د سرو روسانو له وحشته — بلې په هره خوا لنې شوې
د کمونیزم په لغته — ټولې دېرې مو اډیرې شوې
ورکه د نیاو او عدل پته — چې سرې لښکرې راغوړې شوې

په وطن کله چور او تالان دی
وړې پې سرونه او مالونه
په وینو رنګ افغانستان دی
په هر یو کور کې دي ویرونه

*

سړي خواره پرېږ را خواره دي جنت نظیر وطن ورانیږ ي
هره خوا پلي دي- سپاره دي خرسان په وینو نه مړیږ ي
وطنداران خواره- واره دي هره خوا کډې دي باریږ ي
پاڅې پراته په تنا ره دي نمرودي اور دي پرې بلیږ ي

په هره خوا کې بمبارا ن د ی
دي د زګیروییو آوا ز و نه
په وینو رنګې افغا نستا ن د ی
په هریو کور کې دي ویرو نه

*

د کور په ځای نصیب ګور شو د کمونسټ په وعد و کې
هر چا ته خپل وطن سور اور شو وسول د ظلم په لنبو کې
وحشت په هره خواکې خورشو آرام شو ورک کلیو- ښارو کې
له ورانې ځالې پورته شور شو اورو په تنو غلبلو کې :

« دا بشر دوست دی ؟ دا انسان دی ؟
چې بلوي په موږ اورو نه »
په وینو رنګې افغانستا ن د ی
په هریو کور کې دي ویرو نه

*

خو باخیدلې شا زلمیان دي په کامیابۍ مو اعتما د دی
چې جهادي سنګر ودا ن دي آزادیدونکی مو هیوا د دی

په غزا بوخت مو چې غازیان دي آخر راتلونکی عدل و داد دی
په وینو رنګې مو شهیدان دي د سرخروئې د زیری یاد دی
د سبا سنګری مو روښانان دی
"رفیعه!" نن که دي غمونه
په وینو رنګې افغانستان دی
په هریوکور کې دي ویرونه.

❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀❀

کسی‌که ظلم ظالم را میداند و با آن هم برای تقویت وی میکوشد، از دائره کمال اسلام برآمده است.

(بیهقی)

محمد آصف-حکیم

تشه خولې

*

وطن زما دی، خو دودونه پې پردي-پردي دي
کاني موخپل شول، خو لالونه پې پردي- پردي دي

ما چې خوږ لاس غوندې ساتلی و، د زړه په مینه
غم پې زمونږه شو، خوندونه پې پردي-پردي دي

چې اوبوله پې د زړه په وینو هره غوږه
هغه اوس وا شوې، خوګلونه پې پردي-پردي دي

چې پې له هجره د ځیګر وینې زما خوراک وې
بده شامته! دیدنونه پې پردي-پردي دي

سېلاب د اوښو مې ځمۍ ارمانونه يـوړل
پـرې سمسور شوي شـنه بڼونه يې پردي-پردي دي

په غـم او ويـر زما د زړه ستنې راونـړېدې
« سـترګې مې خپلې دي ، خوښونه يې پردي-پردي دي »

سپېرې تندیه ! د تا کومه بـوه وژارمـــــه ؟
ګوګل زما ، پکې سيخونه يې پردي - پـردي دي

د غـم قاصد هره شيبـه راوړي د بـم خـبرې
آسمان مو خپل درانه بمونه يې پردي- پـردي دي

د ژړا ځای مو بـل ځای نه شـته ، ته موويښ خلايه !
خبرې موخپلې دي ، رنګونه يې پردي - پـردي دي

ستا په درشل کې غوږيدلې دا څولـه زمونږ ده
چې ډکه نه شوله لاسونه يې پردي - پردي دي

*

فقيرآباد - پښور

۱۳۶۳/۱۱/۱۱

عرفان-ختک

د حق آواز

قهر یمه ، شړک یمه ، زه قندر-زلزلې یمه
زه پښتون افغان د غیرت لوړې ولولې یمه

د بېرکه دی ورکوې ، خو زړګی مې د پښتونه ډک
م د لوړو-لوړو ارادو د حوصلو نه ډک

زه د مظلومانو سر له داره خلاصول غواړم
زه د حق آواز په هره ژبه راوستل غواړم

زه د افغانانو وړوړی ستړګې سړې لیدی نشم
نورې په ارمان غوټه ارې-ارې لیدی نشم

کله په دې ظلم باندې ستړګې پټوی شمه
زه په کاونډي وطن د ښمن کله پریښوی شمه

ضمیر مې د پښتو دی، د پښتون خوشحال نسی یمه
زه کوره نا ترسه په غورځنګ کې امنزی یمه

هسې افغان نه یمه، زه خوشحالیت لـــــر مه
تښتئ رانه تښتئ کورئ زه ابدالیت لـــر مه

سپک وکورئ مه کنئ زه اقبالیت لـــــر مه
چوپه خوله چې پاتې شومه، دا انسانیت لـــر مه

زه به د اسلام دا بیرغ پورته تر سما کړمه
خوره به په هر لور د اسلام بنکلې رنا کړمه

زه به په خپل لوز باندې ټینګ لکه د غر یمه
کړمه به د حق آواز که د پر ددار په سر یمه

آ مجاهدین دي، چې غـمونه د خپل قام کوي
تل د اکوړي «عرفان» په دوی باندې سلام کوي

« آنگاه که شما به کنارهٔ نزدیک ، و ایشان به کنارهٔ دورتر بودند وکاروان پایانتر از شما ، و اگر با هم وعده میکردید حتماً در میعاد مخالفت می نمودید و لیکن خدا (ج) (شما را بهم آورد) تا با انجام رساند کاری را که کردنی بود ، تا هلاك شود کسیکه هلاك شده است از لحاظ بینه و زنده ماند کسیکه زنده است از رهگذر بینه ، و یقیناً خداوند (ج) شنوای دانا است . »

یعنی خداوند (ج) زمینهٔ تصادم تصادم (بدر) را برای این منظور فراهم کرد تا کسانیکه از لحاظ فکری شایستهٔ زندگی و حیات اند زنده بمانند و کسانی که از رهگذر مبانی فکری مردهٔ پیش بنیستند بمرگ محکوم شوند . اما دلائل دیگری این نابودی قرار آتیست :

الف - مغالطه در معیارها :

امکان بقا و تداوم در خطی میسر است که بر بنیاد ها و مبانی محکم فکری استوار باشد ولی عناصر کافر که ملاکی برای تشخیص خوب و بد در اختیار ندارند و در خصوص عمل سوء خویش سخت در اند ، امکان درك قبح اعمال سوء خود را از دست داده اند و نمیتوانند تشخیص دهند که در مرداب متعفن بدکاری سقوط کرده اند ، به خود خوشبین و به سرمایهٔ موجود خود غره و مفتخر اند ، همین مغالطه باعث میشود تا در خط و روند خود تجدید نظر نکنند و به اصلاح شخصیت عملی خویش و تنظیم آن بر معیارهای طبیعی و انسانی اهتمام نورزند این مطلب نیز در جاهای متعدد قرآن عظیم الشان بیان گردیده است ، چنانچه میفرماید :

س،م، د ، رښتور

خزان

د اګلونه د باغ چا تالا- والا کړل؛
بلبلان اخته په شور اوښوغاچاکړل؛
په ژړا له دې ګلونو چا جـدا کړل؛

کوم ظالم وربانديې راغی له کوم لور؛
چې يې وران کړ د بېوزله بلـبل کور؛

تر پرونه، خو دا باغ تازه- سمسور
د بـلبلو- بورا ګانو پـکې شور و
نن يې وشړل له باغه، داڅه زور و؛

نن چې ګورم، نه هغه بورا- بلبل شته
نه په باغ کې څوانې، ښکلا د ګل شته

آه ! ما ولیده سیلی له کوم خوا راغله
د ټول باغ په وینو- بوټو غوغا راغله
د بلبلو- بوراګانـــو ژړا راغله

ما لیدلې، چې دا پاڼې رژیـــدلې
د سیلۍ سره په خپله ځمکه تـللې

ما لیدل، چې بـلبلان په ژړا سرشول
ما لیـدل، چې له دې باغ ځمکه بهر شول
ما لیـدل، چې کورې پرینـوده په سفر شول

په دې زور زور یې کوچیدو ته کړل مجبور
په زړګي کې رحـم نه و، د مـغرور

په تلو- تلوکې به یې ځالو ته کتل
د ژړا نه یې په ډک غږ دا ویـل:
ای ظالمـه ! تا ته څه په لاس درټلل ؟-

چې زمونږ د خوارو ځالې دې کړې ویرانې
تړې په زور دې زمونږ کډې کړې روانې

چې يې دا خبرې وکړې، بياروان شول
مسافرله خپله کوره په خندان شول
د سمسور باغ د ليدلو په ارمان شول

خدايزده کوې خواته لاړل له خپل کوره؟
بيا به کله بهرته راشي په دې لوره؟

بيا به راشي، چې سپرلی شي په کلونو
بيا به راشي، چې وخت تېرشي د بادونو
بيا به راشي، چې څرک نه وي د غمونو

بيا به پيل په دې خپل کور کې خوږ ژوند کوې
خاطرې به تازې هرې د پرون کـــړې.

کسی که درد لش بوزن یك ذره کبر باشد درجنت نرود شخصی پرسید که انسان عادتاً جامه و پاپوش خوب را دوست دارد پس حالش به چه منوال خواهد بود؟ فرمود که خداوند زیباست و زیبائی را دوست دارد. اما کبر ابطال حق و تحقیر مردم است.

(مسلم)

زېړی لمر!

کلبن له څرمې موسیدلی و؛ مالیار یې نه و
تاندو غوټیو خولې سپړلې وې؛ بهار یې نه و

ویرجن سکوت یې ماتولو، شور اوځوږ شانته و
تنکی احساس و، غږیو نیولی، هیڅ کرار یې نه و

جهان غمونه رانه تاو وو، ځانځانې وه، زه وم
د یلدا شپه وه، اوږد دیده پسې، سهار یې نه و

د جفا غشي، چې ځیګر نه-زړه ته، لاره وکړه
بهیر د وینو شو، ځګېږوی شو، خو پرهار یې نه و

چې زېړې لمر د زلما هیلې له غړو وا روبلې
ګودر هغه و؛ خو د پېغلو انتظار یې نه و

هرڅو که دار و، زولنې وې، د زندان وېره وه
میرات زړکې کې، مینه-مینه وه، انکار یې نه و

محمد عارف غروال

سپښلی ارمان

چې به مدام پرې نازیدم، هغه وطن پاتې شو
زما د سرو ګلونو باغ، ښکلی ګلشن پاتې شو

چې په نړۍ کې بې مثال د ښایست نه و، چې ته
د زړه په وینو مې سمسور، هغه مسکن پاتې شو

باغ - بوستان شته، خو بلبلانو خوښې کړه وکړه
زما د پلار - نیکه په بې کې، زاغ - زغن پاتې شو

لکه چې روح شي ترې جدا، خالي کالبد پاتې شي
دا سې وجود مې د وطن، خالي بدن پاتې شو

لکه بلبل چې د ګلونو په ارمان چغیږي
دا سې په چیغو او نارو مې مرد او زن پاتې شو

لکه ظالم ښکاري، له ښکاره بال او پر وبا سي
دا سې شهید مې په تخته، ټن بې کفن پاتې شو

"غروال!" بیا دې څه د غم قصې راواخیستلې
کړه افتخار، چې مرګ د کټ او د برسټن پاتې شو

۱۳۶۴/۷/۱۱ پېښاور

ژباړه: حمیدالله

روسان د افغانانو څخه ښه زده کړه کوي

په افغانستان کې د روسانو او مجاهدینو ترمنځ داوږده جنګ په باب د معلوماتو د لاس ته راوستو په تړاو کې د ریډیو زاګسټ مدیر « جان باسو » ته دا پته لګیدلې چې روسي عسکر افغاني ماشومانو د جاسوسۍ د بشوولو او روزنې لپاره روس ته لیږي ، جان باسو په دې تړاو کې له مجاهدینو سره رابطه ټینګه کړه او له یوه داسې ماشوم سره یې چې په روس کې ټنډ تر بیې وروسته کندهار ته راستون شوی و ، لیدنه وکړه .

لاندې د دغه ماشوم حیرانوونکي او هیبتناکه انکشافاتو رسۍ اندې کیږي ، چې ده جان باسو ته یې ویلي ، د دغه ماشوم نوم « نعیم » دی .

د نعیم عمر به داوخت اویله د نه کالو شاوخوا و هغه د نوسرو سترګو او زړه راښکونکې مسکا او د پراخ وچولي خاوند ماشوم و ، خو روسانو ورته ورانکاری ؛ (دهشت پسند) جوړ کړې ، افغانستان ته یې دوژنې ، جاسوسۍ او سبوتاژ لپاره راليږلی و -

په ۱۹۸۱ کال د نعیم پلار پوځي کالم نګار او سیاسي آمر و ، نعیم ټیټلوویل چې دیوه رښتیني مسلمان لپاره موږ متله پکار دي چې د روسانو تعلیم وکړو -

کله چې نعیم له نوسرو یو زر افغاني ماشومانو سره یوځای وښول شو او د پوځي طیارو په واسطه د کابل نه تاشکند ته ورړل کیده ، نو ډېر ویریدلی و ، د هغه له سترګو اوښکې روانې وې ، دهغوی په ډله کې له شیدو خورو ماشومانو نه واخله تر خوارلس - پنځلس کلنو هلکانو او جینکیو پورې وو چې له مینډو او پلرونو نه یې ښل کړي وو ، په دوی کې ډېر یتیمان واړه هم وو چې پلرونه یې د روسي بمبارۍ له امله مړه شوي وو ، یو خو واړه داسې هم وو چې له لاسرو .او کوڅو نه راټولو تښتولي وو او داسې هم وو چې د پلرونو له خونې نه پرته یې نړۍ په زور اخیستې وو .

په تاشکند کې پنځوس ماشومان ورک کړل چې په افغانستان باندې د ناروا قبضې د تیګولو لپاره یې وروزي -

د نعیم په خبر ماشومان هم وو چې د پلرونو په خونه کې

رالېږلي شوي وو -

دغه ماشومان يې د تاشکند له ښوانې ښار نه بهر په يوه لوی کمپ کې چې د اوسپنې کتارې ترې تاوېږي واچول او مسلحو روسانو به پرې پېره کوله ، روسي ښوونکو به په پښتو او فارسۍ ژبو له ماشومانو سره خبرې کولې او په پسته خوله به يې د هغوی د اذهانو د بدلو هڅه کوله ، دوی به ډېر زور په لاندې خلورو خبرو[۱۴] چوو ؛

۱ــ روس او افغانستان اوس يو هېواد دی او د دواړو خلکو[۱۵] وروونه دي ، اوس په دوی کې يو او بل نشته .

۲ــ ته [illegible] مسلمان يې ، موږ هم مسلمانان يو ، موږ تاسې ته د صحيح اسلام لاره ورښايو -

۳ــ مجاهدين ريښتيني مسلمانان نه دي ، هغوی خاين او باغيان دي چې ستاسې ملک ورانوي ، حالانکه موږ روسي مسلمانان ستاسې خير غوښتونکي يو او ستاسې مملکت سانتي -

۴ــ که ته په ښه ډول مطالعه وکړې او په روښانه کې زموږ سره مرسته وکړې ، نو چې لوی شوې پېسې او ولک به هم لاس ته راوړې او لوی افسر به هم شې .

نعيم داخبرې د افغان خفيه پوليسو له کوم اکيو چې د کې جي بي تحويلخانه نوکران او د خوانانو د ديموکراتيک سازمان غړي وو هم اوريدلې وې ، نو ځکه د روسي استازيانو په هره خبره پوره باور راغی .

په سر کې خو نعيم لږ څه خفه او متزلزل غوندې و او په

دغه روسي کمپ کې يې ښه ډډه نه لګيده، خو د کمپ د مديرانو روبه ډېره سخته وه، چا د وېښته هوډه خلاف ورزي نه شوه کولای ماشومانو ته له هېڅ بهرنۍ سړي سره د خبرو اجازه نه وه، يوانځې په خپلو منځو کې يې خبرې کولای شوې، په لږه خلاف ورزيکه به يې د مغزې ځونه په وهلو سره کړه، د دغه معصومو کوچنيانو د فرياد اوريدو هڅوک نه و، دوی ته به يې سا ره او بدخونده خواړه ورکول نعيم به د شپې سترې-ستومانه په بستره وروغورزيده او په خپل کور، مور او پلار پسې به يې ژړل.

روسي استاذانو به د مخې مسلمانانو جنوسايډ لو په بهانه ماشومانو د اسلام له اصلي روح نه بې برخه کول، نعيم په دې خبره څکه پوه شو چې شراب په اسلام کې حرام دي، خو دلته يې بښکاره پر ماشومانو وپښل، هغوی يې د ولدکا څکولو ته هڅول او په دې ډول يې ماشومان د مذهب نه پرې دي او نوښت ؤ (جدبديت) خواته تېلوهل.

نعيم دا ومنله چې ده هم څوځله شراب څکلي څکه په دې ډول يې د روسي بنووکي له قهر نه ځان ساته، روسانو له دوی سره د ماشومانو په خبر نه بلکې د يو ځوان په شان سلوک کاوه، هره ورځ به يې پرې بېګار کاوه او په ميلونو - ميلونو يې ځغلول او د لاس-په لاس جنګ او جوړ ډو او کراچ چاونه وربښودل، او په څمکه ښوېدو تمرين به يې پرې کاوه چې د دښمن مورچو ته ځان ورسوي، او دوی ته به يې ويل چې په پټه د غرونو مرونو ته څنګه ځان ورسوي

او په پراخه او اوږو میدانو کې څنګه د دښمن مقابله کیږي، ماشومانو ته به یې دا هم ورښودل چې که په اوږو ځمکو کې د دښمن حمله وکړي نو تاسې په څرنګه د وینو بڼاخونه نیسئ او په ساعتونو - ساعتونو به ورپورې ننبلئ چې دښمن دربانديې د وینو د څاڼګو ګومان وکړي -

دا دېره ښکته د تربیې دوره وه ، په کلکه ځمکه ښوید ل، پتیدل ، جګړه کول،لنده دا چې هیڅ دول پوځي رونړنه پاتې نه و ه چې ماشومانو ته یې ورنکړه - دوی ته یې د AK-۴۷(کلاشینکوف) او T.T 7,62 تمانچې روزنه هم ورکړه ، ماشومانو درانه توپکونه نه شو کارولای ،خو په نړو به یې پرې پورته ګولې او ډزې به یې پرې کولې -

په تاشکند کې دا لومړنۍ روزنې تر درې میاشتو روانې وې او بیا یې د ۱۹۸۲ په پسرلي کې پای ته ورسولې ، په دغه دوران کې یې ماشومانو ته د روس د وفاداریې کوم درس ورنکړ خو په خبرو -خبرو به یې د ماشومانو د اذهانو بدلولو ځڼه کوله او ورته ویل به یې چې د روسانو او افغانانو غرض یو دی او هغه د اسلام سرلوړی دی -

او بیا روسانو د دوی ۶۵۰ ماشومانو چې یوې نعیم هم و چې وړې ښه روزل شوي وو انتخاب کړل، او دوی یې د تاشکند نه څرګند ته ولیږل ، څرګند هم یو ښوونې ازبک ښار دی چې یووخت د اسلامي تمدن ژاڼګو وه ، دلته یې دوی په یوه مکتب کې داخل کړل چې د هرې خوا معاصره و ، د دغه ځای معلمانو به د ماشومانو سره

فلولا اذا جاءهم بأسنا تضرعوا ولكن قست قلوبهم، و زين لهم الشيطن ما كانوا يعلون .

(سورهٔ الانعام : ۴۳)

« پس چرا وقتی‌که عذاب ما به آنان آمد تضرع نکردند و اما دلهای شان سخت شد و شیطان مزین ساخت برای آنان . آنچه را که بودند بعمل آوردند . »

یا اینکه :

و كذلك زين لكثير من المشركين قتل اولادهم شركاؤهم ليردوهم وليلبسوا عليهم دينهم، ولو شاء الله ما فعلوه فذرهم وما يفترون .

(سورهٔ الانعام : ۱۳۸)

« و بدینگونه عدهٔ کثیری از مشرکین قتل اولاد شانرا ، شرکاء شان آراسته است ، تا هلاك کند شان و تا متلبس و مخلط کند برایشان دین آنانرا، واگر خدا خواستی نکردندی اینکار را پس بگذار آنانرا بامفتریات شان . »

شرك و دوگانه پرستی ، مشرکین را به چنین پرتگاه قساوت وجهالت سقوط داده که حتی قتل فرزندان شانرا عمل نیك و پسنده تلقی نموده به آن مبادرت ورزیدند و در پیروی از دستور شرکاء شان، بسوی هلاکت وتباهی جلو رفتند و از درك و تشخیص دین فطری که لازمهٔ شخصیت وحیثیت انسانی شان است عاجز گردیدند و در مفتریات و اکاذیب، حیران و سرگردان باقی ماندند .

دربارهٔ فرعون میفرماید :

وكذلك زين لفرعون سوء عمله و صد عن السبيل

دېر بنه سلوک کاوه ، دلته يې دوی ته‌ددې مضامينو روزنه ورکوله څېره بدلول ، د ټېنټې لاړې-چارې او د مخابراتي وسيلو استعمال ، د وژنې ، سبوتاژ او نورتمارنه لومړنې تعليمات يې دوی علاوه وو ، نعيم د يوه بنه لوبغاړي رول ولوباوه او په روزنه کې لومړی شو ، هغوی نعيم ته د Signaling (په اشارو مطلب روښانه کول) روزنه ورکړه چې د نورو اړخنټانو سره رابطه ټينګه کړای شي او هغوی ته وواېي چې که چېرې ونيول شي نو څنګه د يو معصوم وېرونکي په څېر اداکاري وکړي او ځان له مرګه خلاص کړي له دې وروسته روسانو نعيم ته اوږ اچوونکي مولدو د استعمال لارې-چارې ورښودې او د قوي پوڅې بمونو او مينونو د استعمال روزنه يې ورکړه ، دغه مينونه يو ځای ښخيدل او بيا به‌دمزې په واسطه چاودل ، هغوی نعيم ته د چا قو د استعمال فن هم وښود چې په دېره چټکتيا سره اخوا و دېخوا خپل دښمن هلاک اوټېنټيکلای شي ، هغه ته يې دا هم وښودل چې څنګه په لاره تلې کې د کرکې له لارې يوې ودانۍ ته لاسي بم ورا چول کيږي .

د نعيم په فکر تر ټولو خطرناک بم د لوبو بم (Toy bomb) دی چې خلک پرې تباه کيږي ، روسانو نعيم ته د ټوټيانو او ساعتونو کې د ټايم بم د اېښودلو چلونه هم ورښودل، له دې نه پرته يې ورته‌پساعتونو، قلمونو او نورو شيانو کې د اوږ اخستونکي‌مادې د نصب فن هم ورښود، دا د لوبو د شيانو بمونه به‌يې په ساعتونو کوږ يانو او قلمونو کې اېښودل او په لاړو کې به‌يې تيټول چې

بې ګناه خلک پرې مړه کړي چې په دې دول په خلکو وېره وروغورځوي
نعیم ته دا هم وویل شو، چې دی کله افغانستان ته ستون شو، نو
دا مواد به ورته د «خوانانو دیموکراتیک سازمان» له خوا
ورکړل شي -

په شمرقند کې د روښانفکر دوره هم درې میاشتې وه، د روسانو
دا فکر و، چې دغه مخکې روښانفکر به نعیم له اسلام نه زړهتوړ
کړی وي، دده له ذهنه به یې معصومیت ګروی وي او اوس نعیم په
جسماني لحاظ دومره پیاوړی شوی، چې د روسانو پکار راتلای شي.

د ۱۹۸۲ کال په اوړي کې یې نعیم بېرته افغانستان ته
د یوې روسي پوځي طیارې په واسطه کندهار ته ولېږه، نعیم
کندهار ته په رسیدو سره سم د خوانانو د سازمان سره رابطه
پیدا او کار شروع وکړه، یوه ورځ دی په یوه کوښه تیرې
چې مجاهدین یې ولیدل، په منډه دفتر ته راغې او خبر یې ورکړ
د اطلاع د رسیدو سره سم عسکري قطعاتو مجاهدین د ښار نه
بهر ګیر کړل، که څه هم مجاهدینو دوه ټینکه ویجاړ کړل، خو
مجاهدینو ته هم ډېر ځاني تاوان ورسید او بیا یې غزونې ته
پناه یوړه، د خوانانو سازمان نعیم ته دده وظیفه ښنسه په بدل
کې د انعام په توګه دوه جوړه جاپې ورکړې -

بل وار نعیم او دوه نورو جاسوسانو ماشومانو د یو مجاهد
چې د دو ارتباطي کسانو سره یې خبرې کولې ولید او د تمانچې
ډزې یې پرې وکړې که څه هم هغه ډنډه خطا کړه، خو د پرچم پارټي

د هغه دا کار د پښتنو وستایه اودنعیم پې د پېره ستاینه وکړه .

له روس نه د راتلو نه درې میاشتې وروسته نعیم د یوې بلې ډلې مجاهدینو پته ولګوله ، مجاهدینو نعیم ماشوم وګنلو او د پېره مهربانې پې ورسره وکړه او ده ته پې د خوراک شیان هم ورکړل رخصت پې کړ ، خو د مجاهد پېرې شک راغې او دی پې تعقیب کړ، بالآخره هغه ته معلومه شوه ، چې دی (نعیم) د ځوانانو د سازمان سره اړیکې لري ، هغه نوموړو مجاهدینو ته وویل چې نعیم په اصل کې د روسانو جاسوس دی -

مجاهدین بل ځل په نعیم پسې شول او په تعاقب پې پرې ډزې وکړې ، ګولې د نعیم لاس زخمی کړ، او له لرې نه پې په کړیکې شروع وکړه ، مجاهدینو په د پېره چاپکتیا منده کړه او نعیم پې راوپیژاوه او مټې پې پرې وټرلې -

مجاهدینو نعیم خپل مخ ته یوړ او مجاهدینو پرې جرحه وکړه نعیم د مجاهدینو د تېر ایستلو هڅه وکړه ، خو له دې سره مجاهدینو دی غره ته بوت او هغه ته پې په نرمۍ ووویل چې هغه دیوه افغان په حیث د خپل پلرني وطن سره ولې غداري کوې ؟

نعیم دغه ځل هم مجاهدین وغولول او د شپې په تیاره کې د هغه ځایه وتښتیده او تر له شپه د وړې په بناخوښ پټ ناست و خو مجاهدینو له د پېرې لټې وروسته هغه پیدا کړ ، د غه ځل نعیم خپل تر له کوایف مجاهدینو ته وویل او په خپله خوښه د مجاهدینو په ډله کې شامل شو -

دا وخت د نعیم عمر د دیارلس کلو شاوخوا دی ، تېره میاشت جان باروو د هغه سره لیدنه کړې وه او د هغې ورځو پورې پې ورسره د روپې حرېږو په هکله خبرې وکړې « نعیم د روسانو په باب هغه څه وویل چې درې کاله وړاندې پې هډاهدینو ته ویلي وو ، هغه زما په وړاندې په عملي توګه هم خپله روښانه بنکاره کړه او ماچې د هغه خبرې او عملي کړنه ولیده نو هك - پك پاتې شوم ، یو ورکوټی ماشوم د روسانو تر لاس لاندې څومره مهیب وخت تېر کړی و »-

ما د افغان پولیسو د یوه مهاجر افسر حسین کل سره هم لیدنه کړه هغه اوس د مجاهدینو بنه کلك ملګری دی ، هغه ما ته وویل چې د روس په جنوبي جمهوریتونو کې پې شهره افغاني وارې هلکان او جینکې د غه دول تربیه کېږي ، د دومره ماشومانو په بده تربیه به د روسانو لاس ته څه ورځي او بیا د دغه ماشومانو آینده به څه وي چې اوس روسانو ټینګ نیولې او د خپل ملك سره د غداري درس وایي ، د نعیم کیسه موږ ټولو ته عبرت ور ده -

دا چې زه تا ته ، فغان درلېږم
په وروکې نغښتې باران درلېږم
زه ناموزون وم ، ځکه وطنه
اوس په شعرونو کې ځان درلېږم

«دیوان اشعار»

«دیوان اشعار» مجموعهٔ از غزلیات ، رباعیات ، قصاید ، مخمسات مثنوی ها و دوبیتی های جناب محمد حنیف- حنیف بلخی است که اخیراً در ۳۸۴ صفحه منتشر شده است . مطالعهٔ «دیوان اشعار» نشان میدهد، که گوینده تا حد امکان به پیروی اصول و سنن کهن ادب دری احترام گذارده و کوشیده است که سخن نو را در قالب کهن عرضه دارد .

غزلیات او هرچند کمتر دارای مضامین بدیع وتازه است اما اغلب از جزالت و انسجام کلام و شور آفرینی سبک عراقی نصیب دارد.

قصاید دیوان که یادآورندهٔ بهاران بس باد رفتهٔ بلخ بامیست بسیار شیوا و بلند و پرطنطنه و به نکات و کنایات دلنشین آمیخته است .

بخشی از دیوان اشعار» به مخمسات اختصاص یافته، که شاعر بر غزلهای از بزرگان ادب سروده است ، سرودن مخمس بر غزل

دیگران ازنشانه های ادب قدیم است، که البته امروز در قلمرو وسیع ادب دری چندان رواجی ندارد و مهجور و غریب می نماید، اما درپخشی از شمال کشور، یعنی در زادگاه حنیفی هنوزهم از انواع پسندیدهٔ شعر شمرده میشود.

قطعات و مثنویات شاعر، که بیشتر درکمال روشنی و روانی اند حاوی پند و اندرزهای فراوانی است، چنانکه ثابت میکند که او درین راه یعنی پروردن مفاهیم اخلاقی در عین لطافت و روشنی از طبع قادر و توانا بهرهٔ کافی دارد.

البته باید تذکار داد که تقریباً نمیتوان اشعار هیچ یك ازگویندگان را، حتی استادان کلاسیك را یکدست دانست؛ اشعار حنیفی نیز طبعاً ازین قاعده مستثنی نیست. به اعتقاد بنده درمیان آنچه حنیفی سروده و در «دیوان اشعار» ش موجود است، دوبیتی های «نیستان» او شاعرانه تر از سایر اشعار اوست.

دوبیتی های «نیستان» نمودداری از قدرت طبع روان، افکار بلند و دل دردمند شاعر است. دراین بخش دیوان به ابیاتی بر میخوریم که به اوضاع کنونی کشور نیز ارتباط دارد.

مطالعهٔ «دیوان اشعار» حنیفی نشان میدهد که وی از شعرای حساس و پرمطالعه و درشیوهٔ خویش ازسرایندگان کامیاب روزگار ماست.

در اخیر باید گفت که مضمون شعر نیزهمگام وهمراه بامظاهر زندگی ناچار بایستی تغیر پذیرد، تانشاندهندهٔ عصرخویشتن باشد؛ تنها دراین صورت است که شعر لذت بیشتر می بخشد و شنونده را راضی نگاه میدارد.

دې آینده امید واریم که جناب حنیفي بیش ان پیش به سرودن اشعار بپردازد، که بستګي به شرایط کنونۍ کشور به خونې خفتهٔ ما داشته باشد.

کمونستي اصطلاحات :

دکتاب له نوم څخه دا تصور پیدا کیږي، چې ګنې دا به سیاسي کتاب وي، خو خبره داسې نه ده . « کمونستي اصطلاحات » د مشهور شاعر بنسا غلي عبد الباري- غیرت د طنزیه او انتقادیه شاعرۍ یوه وره مجموعه ده، چې د لوستونکو د استقبال په وجه دوهم ځل دپاره خوره شوه .

« کمونستي اصطلاحات » نه یوازې په ځینو سیاسي - فلسفي کلمو (لکه : استعمار زېرېنا ، بورژوا ، رادیکال،...) باندې قطعات اوغلوېږي لږي، بلکې د ځینو کمونستو او کمونستو ته ورځېږمه شخبرو (لکه : ګرباچوف ، کاسټرو، قذافي ، تره کي ،...) ذکر هم پکې شوی دی . په دې حساب دکتاب پورې نوم باید څه دارنګه وای : کمونستي اصطلاحات او کمونستي شخبرې .

مګر داسې معلومیږي، چې وینا وال دکمونستي فلسفې د اساسي روحیې په اعتبار چې شخصیت ته ارځېنت نه ورکوي او یا هم د نوم د اختصار دپاره د « کمونستي اصطلاحات » عنوان غوره کړي دی .

دا اثر په ۳۲ مخونو کې چاپ شوی دی ، بناغلي غیرت وربانديې یوه لنډه سریزه هم لیکلې ده .

د حسن اختتام دپاره دکتاب یوه ټوټه (قطعه) راوړو :

نااشنا او بې شرمه - بې آبرو ده ویني څښتونکې او سفاکه اوبه روده
پلیت سپي دي- د خلې راسو ریدلي که د خلق او د پرچم پولیت بیرو ده.

Monthly

SPEDE



VOL - III - No. 3
October: 1985

P. O. BOX 665
Peshawar Pakistan

وماکید فرعون فی الانتساب .

(سورهٔ غافر : ۳۷)

« و بدینگونه آراسته شد در نظر فرعون عمل بدش ، و از راه باز داشته شد و نبود حیله فرعون مگر در تباهی . »

ب - هواپرستی :

همچنین عناصر در عملکردهای شان پابند ضوابط و مقررات نبوده در هر کاری از هوای نفس و خواهشات نفسانی تبعیت میکنند ، در هر موقفی که قرار میگیرند و در هر اقدام که انجام میدهند نه اهداف بزرگ انسانی مطمع نظرشان است و در طریق توسل به اهداف محط پابند حد و مرزی می باشد . چنانچه قرآن میفرماید :

فان لم یستجیبوا لك ما علم انما یتبعون اهواءهم و من اضل ممن اتبع هواه بغیر هدی من الله ، ان الله لا یهدی القوم الظلمین .

« پس اگر استجابت نکنند ترا (دعوت را نپذیرند) پس بدانکه جز این نیست که از خواهشات نفسانی شان متابعت میکنند و کیست گمراه تر از آن شخصی که پیروی هوس کند بدون هدایت خدا ، یقیناً خداوند هدایت نمی کند ستمگران را . »

هوا پرستان گمراه از هدایت الهی محروم اند و در پرتگاه گمراهی و ضلالت بسر میبرند .

همچنان میفرماید :

ولو شئنا لرفعناه بها ولکنه اخلد الی الارض و اتبع هواه فمثله

سپیدک

بیاشتنی ادبی مجله

(۱۵)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـئُهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ
يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ
اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

سورۃ البقرۃ آیت (۲۵۷)

وجہ اشتراک سالانہ :

در امریکا - ۳۰ دالر

در اروپا - ۲۵ "

در پاکستان - ۶۰ روپیہ

شش ماہہ :

نصف قیمت

بانکی حساب :

الائیڈ بانک - حبانگر پورہ برانچ

اکاونٹ نمبر (۵۴۴)